# د ميا عبدالحکيم نانا صاحب رح

## په باره کښې د مؤرخينو مغالطې او له رحمان بابا سره د هغهٔ ممکنه ملاقات

عبدالکريم بريالی

**Abstract**: This research paper is going to unfold some outstanding revelations and also nullifies the mythes pertaining to the life, mystic notions and practices of the reckoned saint and mystic scholar Mian Abdul Hakim. This historical figure has influenced thousands of people through his pious practices. The migration of Mian sab from Kandahar is assumed as a political tactic from Shah Hussain the king of Afghanistan. This paper is going to present a different perspective of his migration. It also reveals that, Mian sab had met Rahman Baba, the reckoned classical mystic poet of 17th century and had also exchanged his views and knowledge on certain themes pertaining to spirituality.

تاريخ د نړۍ په تحريري ادب کښې يو مهمه منبع ده چې د تېر شوي وخت حال او واقعات راتلونکي زمانې ته پرېږدي. په دې کښې د وخت حالات او پېښې د مؤرخ د مزاج، استعداد او د هغو وسيلو او منابعو څخه رسېږي چې زياتره وسيله ئې سماعت او دويم روايت وي. لږ داسې واقعات وي چې مؤرخ په خپلو سترګو ليدلي وي ځکه د يوې زمانې د يوهٔ مؤرخ په روايت باندې لاس نيول د حقيقت څرګندونه نهٔ کوي. د دوو درو مؤرخينو روايات چې سره وکتل شي بيا د هغه څخه لوستونکي يوه معقوله نتيجه اخستلی شي.

مؤرخ د وخت تر حاکم لاندې هر وخت راغلی دی. د يونانيانو او ايرانيانو او عربيانو مؤرخين هم په هغو وختو کښې واقعات ثبت کړي دي چې د هغه وخت حاکم به په دوئ سلطه درلوده. په دې اساس مونږ وئيلی شو چې د تاريخ واقعات ډېر ځله د حقيقت څخه برخلاف چلېدلي دي. مؤرخ هر وخت د وخت د باچا په تعريف د خپلې خوښې په تعبير او تر خپلې جذبې او عقيدې بهر راوتلی نهٔ دی. د رواياتو په تمسک کېدلو باندې ئې له ذمه وارۍ څخه کار نهٔ دی اخستی.

په وروستنيو پينځۀ سوو کلونو کښې چې د مغلو چپاؤ په هند راغلی ؤ نو هغوئ به سرکاري مؤرخين او مصاحبين کښېنولي وو او د واقعاتو عکس به ئې د باچا د مزاج او د خوښې مطابق ليکلی. د وخت پر باچا باندې ئې تنقيد او نيوکه نۀ شوه کولی ځکه ټول هغه تاريخونه چې د مغلو په وخت کښې ليکل شوي دي هغه د باچا او حاکم تر تسلط لاندې ليکل شوي دي. د مغلو په تاريخو کښې آئين اکبري تر ټولو مهم کتاب دی چې د هغۀ د ليکلو دپاره ابوالفضل ډېرې وسيلې په کار راوستلې وې. مثلاً د حکومت عمال خو ټوله د دۀ په لاس کښې وو چې هرڅۀ به په سرکاري ډول ليکل کېدو هغه دوئ نقل کړي دي. دوهمه وسيله ئې هغه حالات وو چې دۀ په خپله ليدلي او اورېدلي وو. دريمه وسيله د دې مؤرخ دا ده چې په ښاو خوا ښارونو، کليو او بازارونو کښې ئې خلق ګمارلي وو چې د خلقو څخه حال واخلي. د عوامو د خولې روايات به د يوې خولې څخه تر بلې پورې بيا د يوۀ مشخص راوي په ذريعه به دۀ ته رسېدلې او دۀ به خپل آئين اکبري ترتيب کاوۀ. په داسې حال کښې د واقعاتو د سوچه کېدلو پوره امکان نۀ شته او غلط روايات شفاهي قيصې، عقيدوي رواجونه او د لويو شخصياتو سره د خلقو ذهني رغبت د واقعې اصل شکل يو مخ بدلوي. د مثال په ډول د اکبر باچا په دربار کښې ابوالفضل او ملا عبدالقادر بدايوني د يوۀ دربار خلق وو او دواړه مؤرخين د آئين اکبري او منتخب التواريخ په ډېرو واقعاتو کښې بدل بدل حال وايي چې دا د مؤرخ د خپلې طبعې، مرضي او د پيښې د تعبير کولو غرضي سليقه ده.

د شېرشاه سوري او د هغۀ د زامنو د وخت تاريخونه مغل د خپل غرض په خاطر بدل کړل او په دربار کښې ئې مؤرخين کښېنول چې تاسې سر له باره تاريخ وليکئ. که څۀ هم مغلو د دې پښتون باچا يو انتظامي ادارت او بندوبست خپل کړی ؤ. مغلو خپلې ادارې نۀ وې جوړې کړې بلکې د شېرشاه په خطوطو باندې روان وو او کوم شی چې به د دوئ تر نظر سم نۀ ورتلو هغه به ئې بدل کړ. تر دې حده د شېرشاه سوري زمانې ته نزدې يواځې د مشتاق الله رزاقي تاريخ ډېر د اعتماد وړ سند دی چې د نن ورځې مؤرخين ورته په

درنه سترګه ګوري چې واقعي حال ئې ليکلی دی. په هم دا دور کښې د مغل او پښتون تر منځ توپير راغلی ؤ. په هند د پښتنو د اوږدې باچهي کولو وروسته مغل راغلو نو هغوئ په خپل ډول تاريخ ليکلو بنياد کښېښوو. د دې تهذيبي تصادم د مثال دپاره به يو هغه کتاب وړاندې کړم چې:

"يوۀ پښتون مصور "رسام" د پښتنو باچهانو ښايسته تصويرونه په کال 864هـ کښې رسامي کړې چې د هغۀ نوم اتل خان ؤ. دا کتاب اروابښاد محمد حليم سليم ته په لاس ورغلی ؤ او د دې نمائش ئې په يورپ او امريکه کښې هم کړی ؤ. په دې کتاب کښې د هر باچا د تصوير سره د هغۀ نوم او قوم افغان ليکل شوی ؤ"(1)

په وروستنۍ زمانه کښې تر هغې قامي جذبې او تعصبانه احساس لاندې ئې د افغان توری خراب کړی ؤ او د هغه په توره سياسي کښې به هم هغه افغان توری معلومېدی. او د کال 864هـ تر قيمه دغه کتاب لري. د افغانانو په حقله ښخي ډېر کتابونه ليکل شوي دي خو هغه څو قسمونه دي ځينې د شجرو او اولياوو د ياد په شکل کښې دي او ځنې معلومات ټوله يو له بل څخه نقل شوي دي چې صحيح واقعات او حالات ئې سم نۀ دي ليکلي او څۀ قبيلوي جنبه هم په کښې ليدل کېږي. جنرل مکموهن په خپل کتاب "افغانستان" کښې په سر کښې ليکي:

"There is no book that five any presentation of romantic and after terrible story as a whole ,that pictures the great uplands as to which the earth between the oxus and Indus has been thrown.

ژباړه: داسې کتاب نۀ شته چې هغه دې د آمو او اباسين تر منځ د لوړې او لويې خاورې په باره کښې داسې روماني خوندور وړاندېز ورکړي بلکې په مجموعي ډول سختې او زړۀ را پاروونکې قيصې بيانوي"(2).

ميا عبدالحکيم کاکړ نانا صاحبؒ د يوولسمې هجري په دويم نيمايي او د دوولسمې هجري تر وروستي نيمايي پورې په موده يو ډېر لوئ عالم، فاضل، ولي الله او د نقش بنديه مسلك يو ستر مرشد تېر

شــوی دی. د شــريعت او طريقــت دا لــوئ عــالم د کــاکړ ســنتيا ، شــموزي، ډيوډزي سره تعلق لري"(3)

د ميــا صــاحب عزيــزان پــه يوســف کــڅ رود ملازئــي کښــې "غــوربڅګي" پــه نامــه يــاديږي او د تنګــي پــه علاقــه کښــې د جنــوب پــه خــوا "سرمســکي" کښــې د هغــو پــدري مځکــې او قبرســتان ئــې هــم دلتــه دی چــې ميــا صــاحب د مــور قبــر هــم دلتــه دی. د شــموزيو مځکــې لــه سارنګزيو ســره نــزدې دي چــې د دوئ برخــه هلتــه د کــڅ د پــانيزيو د مځکــو ســره تړلــې پــه يــوه اوږده شــېله کښــې موجوديــت لــري. د پــلار نــوم ئــې ميــا ســکندر دی چــې مــزار ئــې د خــانوزيو د داد حــق زي پــه مــزار بانــدې مسـجد ميــا صــاحب هغــه وخــت جــوړ کــړ چــې د کنــدهار ښخــه راســتون شــو. ميــا صــاحب پــه مروجــه علومــو کښــې لويــه برخــه درلــوده. د نــور درس دپــاره کنــدهار تــه ولاړ او د هغــه ځايــه ښخــه پېښــور او تــر لاهــور پــورې ولاړ چــې د وخــت د لويــو عالمــانو او درنــو شــېخانو ښخــه ئــې د شــريعت او طريقــت دســتارِ فضــيلت حاصــل کــړ. د ظــاهري او بــاطني علومــو يــو مکمــل عــالم وګرځېــدی، حــافظ خــان محمــد د هغــو د اســتادانو نومونــه چــې يــاد کــړي دي هــم هغــه عبــدالحليم اثــر افغــاني پــه "روحــاني تــړون" کښــې تکــرار کــړي دي. پــه دوئ کښــې لــومړی اســتاد ميــا ســيد لعــل جيــو ننګرهــاری دی چــې هغــه د دوئ د پــراخ او لــوئ بــاطن مشــاهده وکــړه نــو هغــه خپــل اســتاد ميــا عبدالغفور پشــاوري تــه واســتاوۀ چــې لــه هغــه ښخــه ئــې کســب وکــړ نــو د نــور تکميــل دپــاره هغــه خپــل اســتاد حــافظ الله يار صاحب لاهوري ته واستاوۀ"(۴)

لــه هغــه وروســته کنــدهار تــه راســتون شــو چــې حــافظ خــان محمــد کــاکړ پــانيزي هغــه مــوده پــه قــاطع ډول نــۀ ده ښــودلې او ليکــي چــې: "د ملــي قائــد ميــرويس نيکــۀ دور تيــر شــو د هغــه ورور عبــدالعزيز دور تيــر شــو. د حــاجي ميروائس د زوئ شاه حسېن د کندهار باچا شو"(5)

د ميــا صــاحب پــه تصــنيفاتو کښــې حــافظ خــان محمــد پــانيزي کــاکړ درې يــاد کــړي دي 1: حصــن الايمــان ۲: رســائل حکميــه ۳: مجموعــه رســائل ميــا عبــدالحکيم. خــدائ بخښــلي عبــدالحليم اثــر افغــاني هــم دغــه درې

کتابونه د حافظ مرحوم له ماخذ څخه اخستي دي. خو په مجموعه رسائل کښې دا اضافه کوي چې په دې مجموعه کښې شپږ رسالې چې ټوله د تصوف د مختلفو موضوع ګانو سره تعلق لري. همدغه معلومات عبدالحليم اثر په اولس رساله کښې په دوه ټوکه کښې چاپ کړي دي خو هېڅ نوې خبره ئې نه ده ليکلې په لومړيو څلورو رسالو کښې دتصوف د طريقو ابتدا ،اصول او قواعد ، د تزکيه او منزيهه او د طريقو د فيوضاتو او د نفي او اثبات بحثونه په محققانه انداز کښې ليکلي دي. پينځمه رساله د خپل استاد حضرت ميا سيد لعل جيو ننګرهاري سره علمي مصارفو تذکره ده او شپږمه رساله د ميا حافظ الله يار لاهوري څخه د حاصل شويو معارفو تذکره ده"(6).

اثر افغاني دا ټول معلومات د حافظ له مقدمې څخه اخستي دي. خو اثر افغاني او حافظ خان محمد دواړو دا رسالې په خپله نۀ دي ليدلې او نۀ ئې لوستې دي. نۀ ئې يوه نمونه د پورتنيو رسالو ورکړې ده. البته د حصن الايمان کتاب چې حافظ خان محمد مرحوم چاپ کړ د ميا صاحب د علمي او صوفيانه تعبير او تفسير يوه قدرمنه او خوندوره نمونه ده.

پوهاند علامه عبدالحی حبيبي په کابل مجله کښې ليکي چې د دوئ سره د ميا عبدالحکيم رحمة الله عليه دا کتابونه موجود وو. 1: مجموعه رسائل ميا عبدالحکيم 2: رسائل حکميه 3: د تصوف مباحث 4: رساله د ميا مير سيد لعل ننګرهاري ابن سيد حبيب 5: رساله د مولانا حافظ الله يار "(7).

حبيبي صاحب د دې تصوفي افکارو څخه هم يوه نمونه نۀ ده ورکړې. دا وروستني کتابونه چې حافظ خان محمد مرحوم په فهرست کښې ورکړي دي د دې نومونه نۀ دي ليکلي بلکې دا حواله ئې ورکړې ده چې "دا رسائل له جناب حبيبي صاحب سره خوندي دي".

تر کومه حده چې د ميا صاحب د حصن الايمان کتاب تعلق دی نو دا د مختصر کلمه حافظ خان محمد له ځانه د کتاب د نامه سره اضافه کړې ده. د پوهاند حبيبي په کتاب کښې ما دې خبرې ته اشاره کړې وه

چې نانا صاحب په خپله و دې ته منتخب حصن الايمان ليکلی دی چې دا نسخه په 1100هـ ليك وه"(8).

حافظ خان محمد چې د مختصر ټکی زيات کړی دی نو هغه د ميا صاحب د دې رسالې په لومړي عبارت کښې داسې ليکي:

"چند مسائل اعتقاديه که دانستن ايشان ضروري و لابدي است. محض لله از کتاب حصن الايمان بعبارت مختصر بطريق سوال و جواب درهشت باب جمع آوردم"(9).

ژباړه: د اعتقاد د زده کولو دپاره څو مسئلې چې د هغو زده کړه ضروري او لازمي ده. مازې د خدائ دپاره له کتابه د حصن الايمان په مختصر عبارت سره د سوال او جواب په اتو بابونو کښې ما جمع کړي دي.)

اروابناد سعيد ګوهر د "تعليم السلوك" په نامه د وظائفو او تعليماتو د کتاب يادونه کړې ده چې يوه مبسوطه فارسي مقاله ده چې احمد بن اسماعيل ابدالي کندهاري ليکلې ده چې په بهاول پريس لاهور کښې چاپ ده چې پينځۀ شپږ نسخې له اروابناد سعيد ګوهر سره خوندي دي. د خواجه احرار غزنوي د فيض قلندري په نامه د سلوك او مقامات و فيوض باندې په فارسي کښې په 1353هـ (1934) د لودهيانه چاپ يادونه هم دوئ د خپل کتاب په تعليقاتو کښې کړې ده"(10).

زما د بحث اصل موضوع هم د حافظ خان محمد کاکړ پانيزي هغه دوولس صفحې په وړه کچه هغه تفصيل دی چې د ميا عبدالحکيم کاکړ په حقله دوئ د ځينو تاريخي کتابو او شفاهي روايتو څخه را اخستی دی. د ميا صاحب د ژوند په حقله دا لومړی مضمون هم د حافظ مرحوم دی چې وروسته ټولو منابعو د هغه څخه اخستنه کړې ده او د ځينو ډېر متنازع تاريخي پېښو او د ميا صاحب د ژوند او رحلت په باره د تاريخونو تخمين دی. حافظ خان محمد يو ډېر خواخوږی ليکوال شاعر او د پښتو، عربي او فارسي کتابونو دکان ئې د بلوچستان بك ډپو په نامه چلاوۀ. ښاغلي محمد ولي زلمي په خپل کتاب د کندهار مشاهير

کښې د هغۀ لـه کتاب څخه پوره استفاده کړې ده خو د هغۀ نوم قدر ئې نۀ دی ليکلی يواځې کتاب فروش ئې ياد کړی دی.

د حافظ خان محمد صاحب دکان پـه کوټـه کښې شپېتۀ کالـه مخکښې د علم او ادب د پوهانو مرکز ؤ. او نورو مخورو شاعرانو او عالمانو به دلته ناسته کوله. علامه عبدالحی حبيبي هم څو څو ځله دلته راغلی ؤ. او د حافظ صاحب سره ئې ډېر مخلصانه تړون ؤ. علامه حبيبي بې خانوزئي ته بيولی ؤ او ښۀ د خوند دعوت ئې ورتـه کړی ؤ. پـه دې کښې شک نۀ شته چې حافظ صاحب پـه هغـه دور د فضل احمد غازي مرحوم، ډاکټر خدائيداد مرحوم، اياز داؤدزئي مرحوم د ناستې ولاړې ملګري وو او دغو ښاغليو پـه دې سيمه کښې د پښتو ادب لومړی اډانـه جوړه کړې ده. حافظ صاحب د پښتو شاعرانو تذکره "د کسې ګلان" شپېتۀ کالـه مخکښې ليکلې وه چې وروسته پـه کال 1989ء کښې چاپ شوه"(11).

"پـه ګلستان مجله کښې ئې د حبيبي وروسته پـه عبدالعلي اخوندزاده "د کسې شخصيت او شاعري" يو خوندور مضمون هم چاپ کړی ؤ"(12).

د ميا عبدالحکيمؒ د ژوند پـه حقله د حافظ داسې ګمان ؤ چې زما پـه خيال درست نۀ معلومېږي ځکـه زۀ هغـه نکتې لومړی ذکر کوم چې وروسته بـه د هغـه پـه منابعو او حقانيت باندې بحث وکړو لومړی دا چې: "لکـه څنګـه چې د هغۀ پلار پـه خانوزيو کښې اوسېدو نو د ميا صاحب جائې پيدائش خانوزئي ټاکو"(13).

(2) او بغير لـه څۀ حوالې وايي چې: "د هغۀ د پيدايش سن 1070هـ تخمينه کوو"(14).

(3) ميا عبدالحکيم صاحب سپين ږيری شو باچا (پاشا) لـه دۀ خفه شو بعضې راويان وايي چې د دۀ معتقد دلاورخان خپله لور باچا تـه نۀ وکړه. (کذا) (نۀ وه ورکړې) بلکې و خپل ورارۀ تـه ئې پـه نکاح کړه. باچا لـه دۀ خفه شو.

(4) بعض راویان وایي چې د کندهار د ښار قاضي چې د میا صاحبرح عام مقبولیت ولید حسد ئې ورسره پیدا شو باچا ئې له دوئ بد ظن کړ"

(5) یا شاید

(6) په بله وجه شاه حسین له قندهاره د دهٔ د وتلو حکم وکړ. میا صاحب سره له خپلو ډېرو شاګردانو او خلیفه ګانو را روان شو. (۷) مونږ د میان صاحب له کندهاره د هجرت کال 49- 1148هـ ټاکو د نورو تاریخونو له رویه مناسب دی او حافظ دا کال 1146هـ تخمینه کړی دی. (8) د عمر اخیري شپږ کاله ئې په تل چوټیالی کښې په ګوښه ځائ کښې په ډېره بې غمي او اطمینان د خدائ ذکر کاوه. (9) تخمیناً 1153هـ کښې وفات شو. (10) د ازار سبب ؤ که اتفاقیه لږ زمانه پس په 1149هـ کښې په کندهار نادر راغلئ. (11) زما استاد د جناب حافظ ادم مرحوم د کندهار روایت کاوه چې میا صاحب په کندهار کښې روان ؤ احمد شاه په مخه ورغلئ. میا صاحب را وبالهٔ دعا ئې ورته وکړه. بیا ئې رخصت کړ. ملګرو پوښتنه ځینې وکړه. دوئ و فرمایل چې دا ډېر نېك بخت ځوان دی په تندي کښې ئې د باچهي نخښې ښکاره کېږي څو کاله پس دا سړی په 1160هـ کښې شهنشاه شو. (12) یو کال ئې په خانوزیو کښې تېر کړ چې درست نهٔ معلومېږي او شاه حسین د ویرې خپلوانو ځائ نهٔ ورکوو.(14)

د دې دوولسو مباحثو په باره کښې زما تحفظات دي ځکه نو په کار ده چې د هغه وخت د تاریخ د پېښو او د نورو دستیاب منابعو سره ئې پرتله کړو. چې د ځینو واقعاتو په حقله روایتي قیصې په تاریخ او عوامو کښې مشهورې شوې دي چې هغه د علم او تحقیق له نظره اصلاح په عقلي، نقلي او استنباطي ډول وشي او د خپل دې لوئ شخصیت او منور عالم په باره کښې د خپل تاریخ او تهذیب لار روښانه شي. زهٔ فکر کوم چې حافظ خان محمد مرحوم یو مخلص او پیاوړی لیکوال ؤ. هغهٔ د خپل استعداد مطابق منابع را غونډې کړې دي او بیا ئې د هغه دور د

وخت او حالاتو مطابق تخمني کړې دي لکه په خپله چې وايي چې تاريخونه د پيدائش او وفات هم دوئ ټاکلي دي"(15).

تر دې له مخه چې د دې دوولسو نکتو په باره کښې د څۀ نوي تحليل کولو له مخه دا يادونه ضروري ده چې د ميا صاحبؒ په باره کښې حافظ مرحوم د څو تذکرو او دوو تاريخي کتابونو او يو تذکرة الاولياء او خزينة الاصفيا څخه استفاده کړې ده"(16).

د تذکرو معلومات خو ثرګند دي چې د اولياوو او د منورو شېخانو او مرشدانو يادونه په کښې شته. تر کومه حده چې د تاريخي کتابو تعلق دى نو په هغه کښې دوه تاريخي کتابونه لکه خورشيد جهان د شېرمحمد ګنډاپور او دويم تاريخ سلطاني د سلطان محمد بارکزي دى. دا دواړه تاريخونه د تاريخي اسنادو له رويه قابلِ اعتماد نۀ دي. د شېرمحمد ګنډاپور پر تاريخ اروابښاد کامل اعتماد نۀ لري او د سلطان محمد بارکزي تاريخ د يوې کورنۍ روئيداد وړاندې کوي او تاريخ اوليائې هند هم له سلطاني څخه اخستنه کړې ده. کومې حوالې چې د دې کتابونو څخه حافظ مرحوم را اخستې دي د هغو تحليل او تطبيق به د نورو تاريخي کتابونو سره وړاندې شي. د دې علاوه نور هغه شفاهي روايتونه دي چې حافظ خان محمد د عوامو څخه اورېدلي دي او هغه ئې د ميا صاحب په سيرت پورې تړلي دي.

په دې کښې يو اهم روايت د دۀ د خپل استاد ملا ادم اخوند هم دى چې ځلوېښت کاله ئې په خانوزئي کښې ملائي کړې وه چې عبدالعلي اخوند زاده له ځان سره راوستلى ؤ چې هغه په کال 1367هـ (1947ء د عبدالعلي اخوندزاده تر مرګ 17 اکتوبر 1944 درې کاله وروسته وفات شوى ؤ. چې بېخي وروستنى روايت چې ډېر څنډنى دى يعني د ميا صاحب هغه دعا چې د احمد شاه بابا په حقله ئې روايت کړى دى خو په تېرو دوه سوو کلونو کښې ډېر کتابونه په اردو، پښتو، فارسي او انګرېزي کښې ليکل شوي دي خو د دې روايت يادونه ئې نۀ ده کړې. يواځې د فقير صابر شاه روايت چې د غنمو وړى ئې د احمد شاه په سر کښې ايښى ؤ. دا واقعه د ټولو ژبو په ټولو تاريخونو کښې شته خو د ملا ادم اخوند روايت په هېڅ ځائ کښې نۀ ليدل

کېږي. دا روايت چې د شپېتو څخه تر اويا کالو پورې عمر لري حافظ خان محمد مرحوم يواځې په کال 1952ء کښې بيان کړ لږ د تامل وړ دی چې مونږ به د هغه وخت د تاريخ او ميا صاحب په کندهار کښې د موجوديت په وخت بيان کړو. يوه بله خبره د پام وړ ده چې که دې روايت ته څوك غوږ ونيسي نو هم د احمد شاه د کشنوني عمر که هغه وخت دوولس کاله ؤ چې ميا صاحب په کندهار کښې ليدلی ؤ او هغه کال د 1148هـ سره سمون خوري ولې چې احمد شاه بابا د درويشتو کالو په عمر کښې باچا شو چې کال 1160هـ 1747ء سره سمون خوري او د احمد بابا زېږېدنه په کال 1722ء کښې تاريخونو ليکلې ده. هلته هم د يوۀ کال فرق موجود دی يعنې 1723ء ګنډاسنګهـ ليکي چې "د احمد شاه د لس کالنۍ پورې څنګه او چرې ژوند وکړ مونږ ته نۀ ده معلومه"(18)

فيض محمد کاتب هزاره په سراج التواريخ کښې يوه واقعه ليکي چې: "نادرشاه افشار احمد خان ته عقيده درلوده. نادر به احمد خان خپلو زياتو خصوصي مجلسو ته راغوښت. يوه ورځ نادر دی خپل حضور ته وغوښت او ورته ئې ووئيل چې د سردارۍ او مشرۍ نښانې د دۀ له تندي څخه څرګندېږي او زما وروسته به اقتدار ستا لاس ته درشي"(19) سراج التواريخ د امير حبيب الله په وروستۍ زمانه کښې چاپ شوی ؤ. ممکن د مولوي آدم اخوند د دې کتاب د حوالې څخه روايت حافظ خان محمد ته کړی وي.

د ميا عبدالحکيم نانا صاحب په ډول د نړۍ ډېر ستانه او لوئ شخصيات او شاعران شته چې ښخې زيات شهرت لري خو د هغۀ د ژوند پيدائش او مرګ د تاريخونو په حقله اختلاف د روايا تو واقع شوی دی. دا الميه په انساني تهذيب کښې آفاقي ده. د رحمان بابا غوندې همه ګير شاعر د ژوند حال له مونږ څخه تر اوسه پټ دی او حتٰی د پيدائش او وفات الفنستين (د کابل حال) (پټې خزانې) د راورټي (د پښتو شاعري په اولسمه پېړۍ کښې) يو څۀ راغلی دی. په دې حقله په تېر يو نيم سل کاله کښې ښخې ډېرو عالمانو د هغو د ټاکل شوي تاريخونو په باره کښې د اختلاف او اتفاق دواړه راغلی دی که څۀ هم د هغه وخت نزدې تاريخي کتابونه او تذکرې د هغه

يادونه کوي. د بدقسمتۍ خبره دا ده چې د خوشحال خان خټک لمسی افضل خان خټک چې مهم ترين پښتني تاريخ په پښتو ليکي نو په هغه کښې هم د رحمان بابا يادونه ګرسره نۀ شته(20). يوائې د راول فقير يادونه شته. په دې اساس مونږ وئيلی شو چې د ميا صاحب د پيدائش او وفات دواړه تاريخونه که څۀ هم په لومړي وار حافظ مرحوم تخمين کړي دي که څۀ هم دا اعزاز ورته حاصل دی چې نورو منابعو هم هغه تاريخونه داسې تکرار کړي دي چې د هغۀ د ژوند او د هغه وخت په واقعاتو باندې چا زحمت نۀ دی ايستلی. تر دې حده چې په کال 55- 1954 کښې د اسلامي دائرة المعارف لاهور د ترتيب په وخت د عبدالحی حبيبي په لاس ليکل شوی مضمون د هغۀ زينت ګرځيدلی دی او په اختصار سره ئې هم هغه خبرې تکرار کړې دي چې حافظ خان محمد ليکلي دي"(21)

دا خو پرېږده د پرش کاله وروسته ډاکټر انعام الحق کوثر (صوفيائی بلوچستان) قاضي عبدالحليم اثر (روحاني تړون) محمد ولي زلمی (د کندهار مشاهير) او د سيال کاکړ (مزارات) کتاب هم تاريخونه تکرار کړي دي. په مزارات کښې پروفېسر سيال کاکړ د صاحبزاده نسخې ته تعليم السلوك وئيلی دی"(22) او وروسته دا د اکتساباتِ روحاني په نامه چاپ شو. ځکه دغه دواړه تخمين شوي د پيدائش او وفات تاريخونه د واقعاتو سره سمون نۀ خوري او څۀ اشتباه په کښې شته. البته د ميا صاحب د ژوند عمر، تعليم، درس، پېښور ته تګ او د کندهار ښځه د راکوچېدلو د واقعاتو سره سم حافظ خان محمد له خپله ځانه ټاکلي دي چې مونږ به د تاريخ د نورو حوالو په ترڅ کښې په هغه رڼا واچوو. لومړی تاريخ او لومړی منبع د ميا عبدالحکيم صاحب د کندهار د ښار ښځه د وتلو او له باچا سره د اختلاف خبره تاريخ سلطاني د سلطان محمد خان بارکزي ليکلې ده.

"هر ائينه عوام کالانعام از عموم الغام و هجوم از دحامش هراسيده شاه حسين عليجائي را از ازدحام و هجومش آګاهي دا دند و برا و چون ادبار تاخته بود از عين لجاج حکم بر اخراج آن بزرګوار نموده"(23).

ژباړه: لکـه څنګـه چې عـوام لکـه حيوانـان داسې دي چې د خلقـو د ډېرښت او خوښـي لـه وجې ئې شـاه حسېن غلـزي تـه د دوئ د زيـاتوالي او غونـډوالي حـال ورکـړ. او لکـه څنګـه چې د دۀ د نسـکورېدو بـده ورځ راغلـې وه له دې ويرې او انديښنې څخه د هغه بزرګوار د وتلو حکم ورکړ.

دا حوالــه د نمـونې پـه ډول چـې نـورو مؤرخينـو يـا کتـاب ليکونکـو را اخستې ده د سلطان محمد خان بارکزئي د دې تاريخ سلطاني په حقله څۀ يادونـه زياتـه مناسـب ده. چې مـؤرخ دا څنګـه د واقعـاتو څخـه محسـوس کـړه چې "د دۀ بـده ورځ راغلـې وه" ګـوا لـه خپلـه ګمانـه څخـه ئې د شـاه حسېن پـه بـاب فکـر کـاوۀ. د نـادر د يوولسـو مياشـتو پـه محاصـره ئې بحث نـۀ دی کـړی او نـۀ ئـې د ښـار هغـه حـالات پـه نظـر کښـې نيـولي دي. سـلطان محمـد خـان بـارکزي د افغـان قبيلـو تـاريخ د تـاريخ سـلطاني پـه نامـۀ پـه فارسـي کښـې ليکلـی دی چې پـه کـال 1281کښـې شـروع کـړی ؤ چې ورتـه "وقـائع طوائـف افاغنـه" نـوم ورکـړی ؤ او مـاده د تـاريخ ئـې د حمـل پـه حسـاب ورتـه "حـروف سـوانح" احـزاب افاغنـه" نـوم ټاکلی دی او بيـا چې ئې پـه کـال 1298هـ کښـې لـه بمبـۍ څخـه چـاپ کـولې نـو ئـې د تـاريخي مـادې پـه حسـاب "کوائـف افغانان" نوم را ايستلی دی"(24).

او کلـه چـې کتـاب چـاپوي نـو نـوم ورتـه "تـاريخ سـلطاني" پـه لـومړۍ ورقـه ليکـي. پـه دې تـاريخ کښـې ئـې د پښـتنو پـه بـاره کښـې د مخـزن افغـاني هغـه روايتـي خبـرې ليکلـې او د لـودهي او سـوري باچهـانو يادونـه شـته چـې لـه فرشـته او نـورو کتـابو څخـه اخـذ شـوي دي. لـه دې عـلاوه پـه خصوصـيت سـره ئـې د ابـداليانو او غلجيـانو تـاريخ را غونـډ کـړی دی او د خپلـې طبعـې مطابق ئې د پښـتنو تـاريخ لـه نـورو منـابعو څخـه هـم اخسـتی دی. دوئ اصـل علـت دا ښـايي چـې د دوئ طوائـف چـې کثيـر المعـارف ورتـه وايـي د دوئ کوائـف وليکـي او تـاريخ فرشـته او نـورو فارسـي کتـابونو پـه ډول ځـائ پـه ځـائ شـعرونه هـم پـه کښـې ليکـي. چې کلـه دوئ يـوه رسـاله د ايـران شـاهزاده علـي قلـي مـرزا المطقـب باعتقـاد السـلطنت لـه تهـران څخـه تـاليف کـړې وه او هغــه د دې مملکـت څخــه د ناپېژنـدګلوي پـه وجــه غيــر حقيقــي حــالات

ليکلي وو او دا تاريخ د نادرشاه د اخيري دور څخه د احمد شاه سدوزئي تر دوره پورې او بيا د هغهٔ د زامنو او انګريزانو په کابل باندې راتګ او هغوئ د نولسمې پېړۍ حالات ئې ليکلي دي او تاريخ نور ويړ او مبسوط نهٔ ؤ ځکه ورته غير جامع او ناوړه ښکاره شو"(25).

د دې په ديباچه کښې ليکي: "کتابی مشتمل بر وقائع طوائف افاغنه و محتووي بر سوانح امراء شاهان و فقراء ذيشان را بقدر امکان جمع و تاليف نمائي تا ضبط آن دحيز اذهان سهل و آسان ګنجد"(26).

(ژباړه: يو کتاب وليکم چې هغه د افغانانو قبيلو پر وقائعو او حالاتو او د باچهانو اميرانو او د فقيرانو والاشان په سوانح باندې مشتمل وي. د امکان په قدر مې راجمع کړ چې د هغهٔ زده کړه په ذهنونو باندې اسانه پرېوځي.)

د دې کتاب دپاره جغرافيائي حال له ګولډاسمت انګريز، مرآة الوضه، جام جم څخه اخستې دی. د پښتنو د تاريخ نور حال ئې لکه لودهي او سوري ئې تاريخ فرشته او سر جان مالکم او مخزن افغاني څخه نقل کړی دی. د غلجيو او درانيو حال د جهانکشائي نادري څخه اخستی دی. د ابداليو راتګ او د سدوزيو د حکومت ځينې حال ئې د شاه شجاع له تزك يا خود نوشت څخه رانقل کړی دی.

نور واقعات د محمد زيو حال له سردار شېرعلي خان زوئ سردار مهر دل خان، عبدالغفور خان، قاضي عبدالرحمان او له خپله پلاره څخه اخلي چې دا ځلور له يوهٔ کهالهٔ بکر سره تړون درلود چې هغه وخت ژوندي وو او دوئ ځلورو د دې مضامين مقابله کړل او د دهٔ په خيال په باوري سند ئې ونمانځل.

ګوا سلطان محمد خان د خپل کهول تاريخ د خپلو خلقو له روايـاتو څخه راغونډ کړی دی او دا ئې باوثوق ګڼلی دی. د پښتنو د قوم نور حالات ئې د پورتنيو تاريخونو څخه را نقل کړي دي چې د هغه وخت په عمومي تاريخ کښې دا رواج ؤ چې "سوانح احزاب افاغنه" ئې وليکئ او نوم ئې تاريخ سلطاني ورکړ.

په دې پورتني اقتباس کښې چې د باچهانو په اميرانو، فقيرانو سوانح ليکي نو د حېرت خبره دا ده چې په دې کښې د يوۀ فقير يا ولي خبره بغير د ميا عبدالحکيم د روايت څخه چې يواځې په قصد سره د دې خپل خاندان د مشرانو په مشوره ورګډه کړې ده. د هېچا فقير او ولي يا شېخ ذکر يا حواله قدر هم نۀ شته. يو ځائ د خواجه خضر د قبر د زيارت خبره کوي ځکه دا وقائع يواځې د سدوزيو او بارکزيو د قبيلو او ورسره د غلزيو د قبيلو هغه حالات دي چې دوئ يا له مشرانو اورېدلي او يا ئې د پورته ذکر شوو کتابونو څخه رانقل کړي دي. که چېرته دوئ د فقيرانو او وليانو يادونه کوي نو د افغانستان هره شېله له هغه څخه ډکه وه. او لوئ لوئ شاعران، صوفيان، د غزني، هرات، کندهار او کابل هم موجود وو. مؤرخ له هغه څخه صرف نظر داسې کړی دی چې د سنائي او خواجه بلخي او نورو ولي الله خلقو يادونه خو نۀ شته. د ميا عبدالحکيم کاکړ ذکر څرنګه دی دومره ضروري وبالۀ چې دا هم ليکي چې نادر شاه کندهار وران کړ او د تاريخ ماڼۍ ئې ونړوله او ميا عبدالحکيم کاکړ خانقاه ئې پرېښووله. او ورسره ليکي چې د ابدالي طائفې په استدعا او خواهش سره هغۀ دا خانقاه خرابه نۀ کړه. که څۀ هم د يوۀ مجاز خليفه چې د ابدالي قوم سره تعلق لري د هغۀ يادونه نۀ کوي.

اروابښاد بهادر شاه ظفر کاکاخېل خپل تاريخ کښې ليکي چې نادرشاه د کندهار د ښار د نړولو حکم ځکه ورکړی ؤ چې پر مخ ئې نور تحفظات درلودل چې داسې نۀ وي چې بېرته خلق را پورته شي"(27).

د کندهار د نيولو دپاره مغلو ډېرې هلې ځلې کړې وې د جهانګير وروسته بيا يوه هم ايراني يا مغلي باچا د کندهار تسخير نۀ ؤ کړی. تر دې چې نادر شاه افشار وربانديې مسلط شو. کانديد اکاډميسن محمد اعظم سيستاني د کندهار د قيام د نور استبداد کوونکي په خطه زياته څېړنه او د قدر وړ کار کړی دی. هغه په خپل کتاب کښې د لارنس لاك هارټ په حواله ليکي چې: "که څۀ هم د جهان کشاني نادري په حواله نادر د ټول کندهار د نړولو حکم ورکړی ؤ خو سيستاني صاحب وايي چې د دې

باوجود چې حکم د نړولو او خرابولو ورکړی ؤ خو په هغه باندې عمل و نهٔ شو. او د ښار ځینې برخې د بربادۍ او خرابولو څخه پاته شوې وې"(28).

ښاغلی سیستاني د محمد کاظم او نورو مؤلفینو په وسیله دا هم وایي:

"آن قدر پول و ثروت هائي ديگر بدست آمد كه در عرض يك ماه بزحمت توانشتند آنها را از شهر خارج كنند"(29).

(ژباړه: دومره مال او دولت د دوئ په لاس ورغلی ؤ چې په ډېر مشکل ئې په یوه میاشت کښې له ښاره څخه ویوست.)

نادرشاه افشار ګرسره دوې میاشتې په کندهار کښې اوسېدلی ؤ ځکه نو د دې تاریخي حوالو څخه ثابته ده چې د کندهار د ښار ځینې خواوې نادر نهٔ وې خرابې کړې ځکه د سلطان محمد خان خبره درسته نهٔ ده چې ابدالیانو ورته سفارش کړی ؤ.

کاندید اکاډمیسن ښاغلی محمد اعظم سیستاني په خپل ګټور کتاب "رستاخیز قندهار" کښې یوه ډېره مهمه حواله د یوهٔ پولینډي لیکوال (تاریخ سیاح مسیحي) چې J.T.Krusinske نومېږي او دا کتاب ایرانیانو د (بصیرت نامه) یا (عبرت نامه) په نامه هم ژباړلی دی. د نادر د هغه وختو حال وایي چې د شاه اشرف د شیراز څخه د ماتې خوړلو واقعه یادوي چې سېدال خان ناصر د دوو سوو لشکریانو سره په شپه له شېراز څخه وتلی ؤ او د نادر فوجونه په ښار کښې داخل شول. سیستاني لیکي:

"و آن افغانها را كه در شيراز فرصت فرار نياخته بودند. همگی را امير گرفتند و به اصفهان فرستاده شدند. نادر محضر مرام اصفهان اعدام شوند. اما ملا زعفران (شاعر و ادبي زبان پشتو) بهنگام عبور از رودخانه خودش را به رود خانه انداخت تاذلت اسارت دشمن را نكشد (30).

(ژباړه: او هغه افغانان چې په شېراز کښې ئې فرصت د تېښتې و نهٔ موندی هغه ئې ټوله بندیان کړل او اصفهان ته ئې واستول چې د اصفهان د خلقو په مخ کښې اعدام شي لېکن یو د پښتو ژبې شاعر او ادیب ملا زعفران د رود تر تېرېدلو په وخت کښې ځان و رود ته واچوئ چې د دښمن د قید کېدلو او قتل کېدلو له ذلت څخه ځان وژغوري. دا ملا زعفران هغه

سړی دی چې په پټه خزانه د محمد هوتک کښې د هغه د شعر يادونه شوې ده او د دې ملا زعفران حواله هغه پولينډي کروسنيکي هم ورکړې ده چې د پټې خزانې د ياد شوو شاعرانو يو مستنده حواله ده. هم دغه ورځ د ملا پير محمد شيخ افاغنه يادونه هم کړې ده چې د شاه محمود د بندي کېدلو په وخت کښې ئې په زندان کښې د دې شيخ په وجه ښۀ سلوک ورسره کړی ؤ. دا دواړه حوالې د پټې خزانې د ياد شوو مشرانو د تاريخي اثبات يوه نمونه ده.

شاه حسين او د هغۀ پاتې کورنۍ د غلجيو مشران مازندران ته ولاړو او هم هلته د قهر نادري په زهرو په طبي اجل مړۀ شول. د خپل حکومت کولو په وخت کښې د پينځلسو کالو وو او په لسم شعبان 1149هـ په مازندران کښې له دې جهانه تېر شو. او د دوئ د وفات خبر نادرشاه ته چې هغه وخت په سند کښې ؤ او د هند له فتح څخه فارغه شوی ؤ او کندهار ته را روان ؤ. رسېدلی ؤ. د دې وروسته تر اوسه پورې يو هم د غلجيو له قبيلې څخه د خپلې بې اتفاقۍ په سوب تر باچهي پورې نۀ دی رسېدلی او نۀ ئې خوشحالي ليدلې ده. په دې ځائ کښې ورکړې تاريخ هم غلط دی.

د سلطان محمد خان تاريخ چې د ابداليو او غلجيو د قبيلو د تاريخي يادابښتونو سره ځوك پرتله کړي نو هغه يو اړخيز ښکاره کېږي. يو ډول د دوئ تر منځ امتياز او حساسيت او بدګماني تشکيلوي که څۀ هم دوئ د تاريخ د صحيح ليکلو دعوه خو کړې ده لېکن د غلجيو د حکومت د نسکورېدلو حال داسې ليکي لکه دوئ چې يو ډول حساس وي خو مؤرخ بې طرفه پاته شوی نۀ دی. تاريخ سلطاني د شاه حسين حکومت د نادرشاه افشار په لاس د نسکورېدو حال داسې ليکي چې عبدالغني خان الکوزي ته د نادرشاه له خوا د ښو جذباتو په عوض کښې په مشروط ډول په زميندا ور کښې سکونت ونيسي او په کندهار مشغوله کېږي.

"شاه حسين با مابقي روسائي غلجاني محمد ما زنداران رفت و هم درانجا به زهر نادوئ يا با اجل طبعی درگزشت. در زمان حکومت پانزاده سال بود. د دردهم شعبان 1149هـ در ما زندان جهان فاني را به درد نمود و

خبر و فاتش به نادرشاه به فرسند زمانیکه از فتح سندهـ فارغ شده قندهار مراجعت داشت رسید. بعد ازو تا حال کي از طوائف غلخاي مرتبه سروري نرسید و بحسب بې اتفاقي روئ خورسندي را ندیدند"(31).

له دې څخه څرګنده ده چې مؤرخ په مافي الضمیر کښې یو قبایلي احساس لري او د دې د توپیر د څرګندولو دپاره یو هم د باچهي ور نۀ ګڼلو ځکه نو باچهي ته نۀ ورسېدل. وروسته لیکي چې:

"و اهل احرار این شقاوت و ادبار را نتیجه ازار میا عبدالحکیم صاحب کاکړي قدس الله سره العظیم میداند"(32).

د نظر خاوندان دا بدبختي او اوښتون د میا عبدالحکیم صاحب کاکړ (قبر دې ئې لوئ خدائ مقدس کړي) د ازارو نتیجه ګڼي.

وروسته د دې بیان تفصیل تخصیصاً ورکوي چې هغه د غورغښت له قبیلې د کاکړو یو لوئ بزرګ ؤ چې مرجع د خاص و عام ؤ. د ذهانت او فطانت او د علم د حصول او بحث او کتابو په شغل اخته ؤ او په هر فن کښې اخته ؤ او یوه لحظه ئې نۀ ضایع کوله. خوارۍ ئې کښلې او کوششونه ئې کول. او بیا هغه د علم د زده کړې خبره کوي "اشتقاق، صرف و قواعد، نحو، قوانین منطق و آئین حکمت د نکات بدیع معاني و بیان اصول و میزان حدیث و دلائل تفسیر، فقه و قواعد احکام و فوائد کلام سر آمد عصر بود. و بعد ازان از مجاز به حقیقت پی برده دست ګیري نمود".

مؤرخ دا ټوله هغه کوائف لیکلي دي چې د یوۀ عالم سړي دپاره د دې د زده کړې څخه چاره نۀ شته. بې شکه هغه په دې کښې پیاوړی ؤ. خو د مجاز څخه د حقیقت په لوري چې روان شو نو مؤرخ لیکي یوه خبره د هغه د استادانو یا د هغۀ د چلې کشي او مسافرت نۀ کوي او نۀ ئې یوه نېټه د هغه وخت لیکلې ده او نۀ ئې د پېښور او د لاهور د مسافرت یادونه کړې ده. یوازې دا چې باچا د هغه د مریدانو څخه ووېرېدی او د وتلو حکم ئې ورکړ او خانقاه ئې ونړوله. په دې خبره کښې یو تضاد دا هم شته چې شاه حسېن خانقاه ونړوله. نو بیا چې نادرشاه افشار کندهار ونیولی نو دی څنګه لیکي چې نادرشاه ته د درانیو مشرانو وئیلي وو چې په خانقاه کار

مـځ لـره او د هغـه د بـچ کېـدو سـفارش ئـې وکـړه. لـه دې څرګنـده ده چـې شـاه حسـين د هغـه خانقـاه تـه تـاوان نـۀ ؤ رسـولی ولـې چـې نادرشـاه افشـار وروسـته د يـوۀ کـال د محاصـرې پـس راغلـی ؤ. د خـان قـاه د نړولـو خبـره ښـخي تهمـت او غلط دی. دويمه خبره هم دا اضافه کړې ده چې:

"از فـرط تجاهـل نهايـت بـې عزتـي مهـر عبـد اسـتتند و شـيخ گفـت همچنـان کـه مـرا آواره دار و ديـار کرديـد شـمارا نيـز از دولـت و سـلطنت کنـاره و تـا قيـام قيامـت از نظـم ديگـران بېچـاره خـواهم و بعـد ازان از راه شـال و مشـك هندوسـتان شـناخت بموضـع تـل و چوتيـالي سـکونت گزيـد همدرانجا وفات يافت"(33).

(ژباړه: او د جهالـت پـه وجـه ئـې هغـه پـه بـې عزتـي و شـړلی او شـېخ ورتـه وئيلـي ؤ لکـه څنګـه چـې دې زۀ اواره کـړم او لـه کـوره دې لـرې کـړم دغسـې تـا هـم د دولـت او سـلطنت څخـه تـر قيامتـه پـورې بـر کنـاره او د نـورو د ظلـم څخـه دې بـې چـاره غـواړم. د هغـه وروسـته د شـال د کـوټې او مشـك لـه لارې هندوسـتان تـه ولاړئ او پـه تـل چوټيـالی کښـې ئـې سـکونت غـوره کـړ او هـم هلته وفات شو).

سـلطان محمـد خـان بـارکزی ليکـي چـې: "نادرشـاه و نړولـې نـو د ابدالي طائفې په سفارش ئې د هغه خانقاه د نړېدلو څخه پاته کړه.

د ميـا صـاحب پـه بـاره کښـې د شـرا کولـو دغـه روايـت هـم دغـه مـؤرخ ايجـاد کـړی دی. اوس چـې تـر قيامتـه پـورې د غلجيـو بـاچهي وروسـته راغلـې ده کنـه خـو دا ليکنـې د مـؤرخ د ذهـن پيـداوار دی چـې د مقابـل طـائفې پـه بـاره کښـې ئـې کـوم حساسـيت درلـود. د هغـه څرګندونـه ئـې پـه خصوصـيت سـره وکـړه چـې وروسـته مؤرخينـو پـه پټـو سـترګو هـه پـه غلطـۍ سره تکرار کړې ده.

ميـا صـاحب رحمـة الله عليـه يـو بـزرګ، ، دادخـواه او پـه غريبـانو مهربانـه عـالم ؤ. د دنيـوي معـاملاتو سـره ئـې سـروکار نـۀ ؤ. هغـۀ د لويـو اسـتادانو څخـه فـيض اخسـتی ؤ او د تصـوف پـه څلـورو طريقـو کښـې مـاذون ؤ. د وخـت لـه لويـو علمـاوو او صـلحاوو سـره ئـې رابطـه او مکاتبـه وه. د نقـش بنديـه د مسـلك

صوفيان ډېر پرهېزګاره او ګوشه نشين خلق وي. هغه د روحاني تربيت او تسکين درس ورکوي او د دعاوو تبليغ کوي. هغه بددعاوې نهٔ کوي او نهٔ دا خبرې درستې دي چې په ميا صاحب پورې د بد دعاوو کولو خبره دا مؤرخ مشهوره کړې ده. البته مريدان د خپل پير د فيوضاتو بيانولو او د هغه د برکاتو د ثرګندولو دپاره قسم قسم خبرې مشهورې کوي چې د هغهٔ مشاهده په خپله راوي هم نهٔ وي کړې. بلکې د بل د خولې څخه ئې روايت کوي. زما په خيال په ميا صاحب رنګه عالم پورې د بد دعاوو خبره درسته نهٔ ده. عبدالحليم اثر افغاني ليکي چې: "د شاه حسېن سره د تعلقاتو خرابېدو په باب چې کوم وجوهات بيان شوي دي د هغې په سلسله کښې د تاريخ خورشيد جهان، تاريخ سلطاني او تذکره اوليائې هند د رواياتو نه علاوه په مقامي روايتونو کښې هم له حد نه زيات اختلاف دی"(34).

په هغو رواياتو کښې ځينې خرق العادت کارونه هم مشهور دي لکه د دانګرېزانو په مرتب کړي ګزيټېر لورالائي کښې داسې راځي چې: "د کوژك ونې په هغه پسې را رواني وې او د صحرا رنګ ورپسې را مات ؤ او ورته وې وئيل چې تم شه په روحاني پيرانو پورې داسې خرق العادة کارونه مشهور کول د مريدانو او ضعيف العقيده خلقو کار دی. پيران او وليان په خپله د داسې خبرو څخه پرهېز کوي هم دا خبرې په را وروسته زمانه کښې د کم علمه خلقو په سبب په عوامو کښې مشهورې شوي دي. دوهم علت ئې دا دی چې د اکثريت مريدانو علم کم وي. او هغه په تصور او خوب باندې يقين لري. او قصص الانبياء زيات مشهور کتاب دی چې دوئ به مطالعه کاوهٔ نو په هغه کښې اسرائيلي روايات په پښتو هم نظم شوی دي چې په هغه کښې د زکريا عليه السلام قيصه هم شته نو ممکنه ده چې دا اسرائيلي قيصه د عوامو په ذهن کښې د وعظ په صورت د يوې اسطورې شکل غوره کړی وي. په نن زمانه کښې هم د زکريا عليه السلام قيصه د هالي ووډ په هغه مشهور فلم Chroniclos of Naynia کښې د کليسائي فوجونو په وخت درختې رواني وې او ريښې ئې د فوجونو مقابله کوي د منجنيق مقابله کوي. دغه اسرائيلي روايات زمونږ په

تصــوفي روايــاتو کښــې راننــوتلي دي چــې دا يــوه تصــوراتي او عقيــدوي ســطوره ده لکــه پــه ميــا صــاحب پســې چــې درختــې او ريــګ را روان وو. دغســې د مزريــانو او ځنګلــي حيوانــانو خبــرې کــول هــم اســرائيلي روايــت دی. او بــل دا چــې د تــوبې اځکــزي، د ټولــو مــارانو زهــر بــې اثــره شــو. پــه تــل کښــې د ميــا صــاحب قيــام شــپږ کالــه يــادېږي او د خــانوزيو خلــق ئــې دې تــه هڅــولي وو چې د دۀ پلار سکندرشاه د پير په دود ومني"(35).

پــه تــل کښــې د لســيانې ترينــانو د يوســف خــان ســره پــه مســجد کښــې ؤ چې د هغــه مخــالف جــلال خــان ادوالــي موســياني پيــر صــاحب خوابــدی کــړ او هغــو تــه ئــې بــد دعــا وکــړه. هلتــه د ښــادوزي کبزئــي وګــړو چــې دلتــه راغلــي وو د هغــه خــدمت تــه ځــان وســپارلو. خــو بيــا هــم دا خبــره مشــهوره شــوه چــې د ادوانــې څخــه پښــوانی بــرم ولاړ. هــم دا اولســي او عــوامي خبــرې دي چــې وروســته انګرېزانــو هــم نقــل کــړي دي. د ســلطان محمــد پــه تــاريخ کښــې د ابــداليو او غلجيــو تــر مــنځ ځينــې خبــرې دېــرې نــاوړه دي چــې د اولســونو تــر مــنځ منــافرت اچــوي. کلــه غلزئــي پــه مکــر او فســاد ســره پــاروي خــو د ميــرويس نيکــه هغــه مړانــه پــه خونــدوره توګــه نــۀ يــادوي لکــه څنګــه چــې نــورو مؤرخينــو ذکر کړې ده. جنرل مکموهن ليکي:

Mir wais killed the governor of Kandahar and drore out his troops and for the moment held that province as an independent principality, at a time when the Moghal throne was in disorder. This victory stirred the Afghan imagination and set light to attain that was to inaugurate a long era of Afghan conquest and lead eventually to the modern Afghanistan of today, which has not yet been a kingdom by itself. It is curious to note that it was the Ghilzais, and not the Abdali, who took the leading part at the start. (36)

(ژبــاړه: ميــرويس د کنــدهار ګــورنر ګــورجين وواژۀ او د دۀ فوجونــه ئــې وايســتل او پــه دغــه لمحــه ئــې دا صــوبه د يــوۀ ازاد وطــن پــه څېــر وســاتله. چــې هغــه وخــت د مغلــو د حکومــت تــاج پــه خطــر او بــدنظمي کښــې ؤ. دغــې فتحــې د افغانــــانو تصـــور را ولـــړزاوۀ او د افغانــــانو ديـــو اوږدۀ دور او د فتحـــې افتتــاح ئــې وکــړه چــې هغــه د نــن ورځــې د افغانســتان د جوړېــدو دپــاره واقعتــاً لاره هــواره کــړه چــې دا وخــت هغــه د بــاچهي او مملکــت پــه شــکل

کښې موجود نهٔ ؤ. دا ډېره اهمه او باريکه خبره په ياد ساتل دي چې هم دا غلزی قوم ؤ بلکې ابدالی قوم نهٔ ؤ چې هغو د دې د رهبري دپاره په شروع کښې برخه اخستې وه.

ګرجين چې ميرويس د ابداليو خلاف را پاروي نو هغه غلی شي او په بله خوا روان شي. تر دې چې په شهر صفا کښې ګورجين دولت خان او د هغهٔ زوئ نظر محمد خان شهيدان کړ. بيا چې رستم خان ونيسي او د هغه د وژلو حکم ورکړي نو هم ميروايس خان چې يو دانا سړی ؤ د هغهٔ څخه ډډه وکړه ولې چې ګرجين د دوئ تر منځ فساد غوښت.

د غلزيو د قوم د ابتدا په باره کښې هم مؤرخ سلطان محمد هغه غلط روايت نقل کوي چې تر نکاح له مخه پيدا شوي زوئ ته غلزوئ وايي. دا سراسر بهتان دی چې د مغلو له دور څخه را شروع شوی دی او موصوف له فرشته او مغلي تاريخونو څخه دا اخذ کړی دی چې بېخي ناجائز دی چې وروسته اولف کېرو هم دا ناروا ښکنځا پښتنو ته کړې ده. پوهاند حبيبي د دې غلط روايت اصلاح کړې ده او هغه ته ئې غرجونی وئيلی دی. لېکن سلطان محمد په نافهمي سره د دې ټکي يادونه کړې ده. دغسې ئې په سړبنو کښې د بارك د قوم زياته ستاينه کړې ده او د پوپل څخه سرټکوي. يو ځائ ليکي:

"مدة متمادی رياست طوائف افاغنه درقبضه اقتدار اولاد پوپل بود و بر اولاد و احفاد بارك تظلم بنموند".

تر ډېرې مودې پورې د پښتنو د حکمرانۍ او اقتدار واګې د پوپل په لاس کښې وې او د بارك په اولاد ئې زيات ظلم کاوهٔ. وروسته د مار د زهرو شعر ورکوي چې دښمن ته زهر ورکوي او دوست ته مهره ورکوي. غرض دا ډول ذاتي خواهشات او انګېرنې ئې د تاريخ په نامه يو ځائ کړې دي. تر دې چې د ميرويس مقبوليت زيات شو نو د هغهٔ د انقلاب واقعه په داسې نهٔ زړهٔ ليکي چې دا ئې هم زړهٔ نهٔ مني چې هغه په غلزيو کښې د يوهٔ ولي الله په صفت مشهور شو او نوم ئې حاجي مير خان کښېښود. حالانکې هم دا قيصه د ګرجين د وژلو چې افضل خان خټك په

تاريخ مرصع کښې تر سلطان محمد دوه سوه کاله وړاندې ليکې نو هغه ميروائس د يو درونـد پښتون په صفت يادوي".(36)

د دې ټول بحث څخه مراد دا دی چې سلطان محمد خان د يوې کورنۍ د ستايلو تر پرده لاندې د پښتنو ملي مشرانو تاريخ ليکلی دی او په هغه کښې ئې په ميا صاحب پورې دا خبره غلطه تړلې ده چې هغه ئې په بې عزتي له ښاره ويوست. چې د هغه وخت نور تاريخونه د دې واقعې يادونه کوي. ځکه نو دا په يوۀ غرض ليکل شوې ده چې د غلزيو باچا وريپوې بدنامه کړي.

د حافظ خان محمد هغه غلط روايت چې د دلاور خان د لور د غوښتنې خبره ده نو هغه هم موصوف د تاريخ خورشيد جهان څخه را اخستې ده خو د هغۀ په دې غوښتنه او د دوستي په مبادله باندې پوه شوی نۀ دی او د خورشيد جهان نورې صفحې ئې د دلاور خان په لوستې نۀ دي. ګنډا پور شېر محمد خان د نادرشاه سره د سرخۍ خان الکوزي په داغستان کښې دا قيصه په داسې ګډ وډ انداز کښې ليکلې ده چې هغه وخت عبدالغني خان الکوزي ټول پښتانۀ د هرات چې د نادر په خدمت کښې وو د سرخئي خان د جنګ دپاره ماموره کړي وو او بيا د خراسان دا ټوله سيمه ئې و رضا قلي خان ته سپارلې وه چې تر قزوين پورې ورسېدو. په دا وخت کښې يو د دلاور خان تيمني کاکړ له خوا يوه معافي نامه او د خطا د بخښلو خط نادرشاه ته وړاندې شوی ؤ. د دلاور خان د چا مچراق د سيمي سره په زمينداور کښې مېشته وو. د افغانانو په اصطلاح د خپل خود سري په وجه د دوۍ اطاعت ته ئې غاړه نۀ ښووله. تر دې چې نادرشاه ته نابېره د يوۀ جماعت سره حاضر شو او د هغه ملګرى شو چې هرات ئې فتح کړ نو د ايماق خلقو ته ئې هم هلته د اوسېدو حکم د روساوو سره ورکړ. ليکن دلاور خان انحراف وکړ. جنګ ورسره وشو. خو طهما سپ قلمي خان او پير محمد څو موده توان ورسره ونيولی او اخير چې لاچاره شو د اتو سوو کسانو سره ئې قيد کړ. زامن ئې غرجستان ته وتښتېدل. نادر بغداد ته ولاړ. دلاور خان د هغۀ اتۀ زرو کسانو سره د جنو شان په لوري واستوۍ. وروسته ئې وبخښلۍ هلته ئې بيا دوکه

وکړه او غرجستان ته ولاړ چې د بلخ سيمې ته ورسېد نو شپږ اويا کسه ئې وژلي وو. دلته ئې بيا محافظين مړۀ کړل او د هزاره جات په خوا ولاړ. وروسته د هزاره او بلوڅو د سيمې په خوا وتښتېدی چې وروسته د کندهار خلق د مرستې دپاره ورغلل او د زميندآور سره نږدې په اتۀ فرسخه باندې ئې ځائ ورکړ. دا ټوله قيصه شېر محمد خان ليکلې ده او وروسته ليکي:

"چون شاه حسين غلزئي والي کندهار با او درموافقت مى زد و تزويج دختر اورا پيش نهاد خاطر خود ساخته دلاورخان نيز آن تمنائى اورا شرط مبادله مشروط داشته اما شاه حسي ازين جواب او برآشفته جمعى را باخت او تعين نمونند. دلاور خان چون روئ توقف در آنجا نديد فرار کرده باز بغرجستان رفت و درانجا شاه هزاره رضا قلى مرزا را شفيع ګناهان خود ساخته و غريضه اعتذار آميز بدرګاه نادرشاه فرستاد چون که دران وقت نادر متوجه کندهار بودکار اور حواله بوقت ديګر ګشته جواب صادر نۀ شد"(37).

(ژباړه: کله چې دی د شاه حسين غلزي سره په موافقت بوخت شو نو هغۀ له خپلې د هغۀ لور د ځان دپاره وغوښتله او مرکه ئې ورته وکړه. دلاور خان هم دا خواهش د مبادلې يعنې د سرې سره مشروط کړې. لاکن شاه حسين له دې ځواب څخه خوابدی شو او څو کسه ئې د هغه د تښتې د راګرځولو دپاره وګومارل چې هلته ئې نور وخت نۀ شو تېرېدلی نو بيا د غرجستان په لور وتښتېدی او شهزاده رضا قلي مرزا ته ئې ننواتې وکړه او د خپلو ګناهونو د شفاعت په توګه ئې د بخښنې فريضه د نادرشاه په لوري ورواستوله په هغه وخت باچا د کندهار د نيولو په کار اخته ؤ او دا کار ئې د بل وخت دپاره پرېښوو او هېڅ حکم ئې صادر نۀ کړ).

اوس نو د دلاور خان تيمني کردار د هغه د عمل څخه څرګند دی چې څۀ رنګه داسې بې باوره سړی د ميا عبدالحکيم رح دومره عقيدت مند جوړېدائ شو. او دا د مرګ او ژوبلې کارونه او بد قولي او بېرته پښېماني په څو واره دی د نادر شاه او د هغۀ د زوئ دربار ته مجبور کړی ؤ. لومړی خو د حافظ خان محمد دا خبره له سره غلطه ده. زما په دې

تاريخ کښې دا هم تر نظره نۀ شو چې دلاور خان خپله لور ورارۀ ته ورکړه. دويم بحث دا دی چې د نادر شاه د کندهار د تسخير او حملې په وخت ايا ميا عبدالحکيم موجود ؤ که نه؟ چې دا کال 1149هـ جوړيږي. لکه څنګه چې مؤرخ شېر محمد ليکي نو شاه حسېن چې د هغۀ لور وغوښته نو دلاور خان د مبادلې په شرط منظوره کړې هم وه. خو شاه حسېن خوابدی شوی ؤ. دلته دا غلط تاثر يا پروپيګنډه چې ميا صاحب دلاورخان ته وئيلي وو چې لور مه ورکوه، سراسر دروغ دي چې هېڅ وجود نۀ لري. د دې واقعې سره زما لوئ مقصد دا دی چې ميا عبدالحکيم په دا دور کښې چې نادرشاه د کندهار د تسخير نيت کړی ؤ او ډېر پښتانۀ، ازبك، بختياران او ابداليان ئې د ځان ملګري کړي وو نو دا وخت د کال 1149هـ څخه شروع کېږي او ميا صاحب په دا وخت کښې په خپله خانقاه کښې په کندهار کښې موجود ؤ. د حافظ خان محمد دا ګمان چې د هغۀ قيام تر 1146هـ پورې ؤ درست نۀ دی. نادر شاه روغ کال کندهار محاصره کړی ؤ او د ميا صاحب خانقاه چې چرې موجوده وه د هغه تر شاه لوئ غر ولاړ ؤ او د کندهار درې طرفه غرونه وو او بل طرفته د ارغنداب رود ؤ. ځکه نو اوس د ايرانې مؤرخينو او يورپي مؤرخينو هغه نقشه ستاسې په مخ کښې وړاندې کوو چې د دې جنګ سانحه او د هغۀ نقشه او په هم دغه اخ و ډب کښې ورسره نږدې د ميا صاحب خانقاه هم موجوده وه. له دې واقعاتو او د جنګ او جدال له منځه د راوتلو دپاره ميا صاحب خپله فيصله کړې وه چې د دې ميدان جنګ څخه ووځي. دا څنګه کېدای شي چې په شل فرسخه دي په زرګونو فوجونه د ډېرې مودې دپاره پراتۀ وي او د سيدال خان ناصر او يونس خان حملې دي وربانديې کېږي. او په داسې حال کښې د غلې هم کاختي وه. له دې صورت حال څخه د بهر وتلو يو عام فکر هم د لوستونکي په مخ کښې راځي. ځکه د شاه حسېن له خوا پر دوئ داسې فشار نۀ ؤ راغلی بلکې دا فشار چې د ميدان جنګ هم ؤ چې د دۀ کور او خانقاه د هغۀ په زد کښې وه.

سر پېرسي سائکس په خپل تاريخ د ايران کښې د شاه حسېن د نادر د جنګ وخت 1738 – 1737ء 1151 – 1150هـ ښايي او د کندهار محاصره داسې ښايي ليکي:

"Round the city a line of towers was constracted, twenty eight miles in circumference and in these infantry ormed with muskets were stationed, so the Kandahar was effectually cut off from the sure surrounding counting. But the city held out for a year, and Nadir them resolve to take more active steps. Kandahar stands on the face of a hill, and was defended by a wall and by a number of towers which constituted out works. The besieger made them selves master of some of these towers to which with immence difficulty they dragged up guns, the Bakatiaris earning special distinction by capturing a large tower which was the key of the position. Kandahar now lay at the mercy of Nadir who treated it with state menlike moderation. He enlisted a body of Afghan who became some of his best and most faithful soldiers. Hussyn fled but after war surrendered and was in terned in mazandran. Of the Gilzai a large number were removad to the neighbourhood of Nishapur, whence Abdali nomads were brought to take them place in the Kandahar district"(38).

(ژباړه: د ټول ښار چار پېره د برجونو يوه ليکه ئې تعمير کړه چې په ګولائي کښې اتۀ ويشت ميله وو او هلته مځکني ملح فوځ چې د ګوليو له انداز kots Mvs سره ساتلي وو ځکه ئې کندهار په موثره توګه د شاه و خوا وطن څخه بيل کړی ؤ. او دا ښار ئې تر يوۀ کاله پورې محاصره کړی ؤ او نادر نور مؤثره ګامونه وروسته واخستل، کندهار د غرونو په مخ کښې پروت دی او شا و خوا دېوال او ډېر برجونه ئې تحفظ کوي چې بهرنی جوړ کړی کار تشکيلوي. محاصره کوونکو خپل ځانونه د ځينو برجونو دپاره په اعلی توګه تياري نيولې وه چې په ډېر مشکل سره ئې توپونه ورننه ايستلي وو چې هغه بختياريان وو چې په خصوصي تجربه سره ئې هغه لوئ برج نيولی ؤ چې ببخي د خصوصي او کليدي وړ ځائ ؤ. دلته د کندهار د نادر په رحم و کرم پروت ؤ چې هغه په ډېر حاکمانه او د مناسب وړ سلوك په ساتلو سره سر شو. هغه د افغانانو يوه ټولې تياره کړه چې هغه د دۀ ښۀ وفادار فوځيان وو. شاه حسېن وتښتېدلی خو وروسته تسليم شو او ما زندران ته واستول شو. غلزيان ئې په ډېر تعداد سره ليرې

کړل د نيشاپور په شا و خوا کښې ئې مېشته کړل چې له هغه ځايه څخه ئې ابدالي کوچيان راواستول او د دوئ پر ځائ ئې د کندهار په ضلع کښې اباد کړل".

د شاه حسېن د حکومت د نسکورولو دا منظر د يوۀ لوئ انګرېز جنرل مؤرخ په نظر ستاسي مخ ته وړاندې کړل چې په څۀ ډول د کندهار ښار د کال 1149هـ او 1150هـ (1737 – 1736ء) تر منځ تر محاصره لاندې نيول شوی ؤ او د غرونو هغه سيمه چې د لوېديځ په خوا د ښار سره نږدې د ميا صاحب خانقاه هم موجوده وه چې په دا محاصره کښې راغلې وه. د يوۀ کال تر مودې پورې چې داسې فضا موجوده وي نو سړی څۀ فکر کولی شي چې هلته د ارامۍ ژوند کېدلی شو. دلته د حافظ خان محمد مرحوم دا مفروضه بې له څۀ سنده ليکلې ده او د پام وړ ده چې ميا عبدالحکيم نانا صاحب قيام تر 1146هـ پورې درلود"(39). ولې چې د ميان صاحب د 15 پر ځائ د 25 کالو د قيام تصديق نۀ کوي.(40)

دا تاريخ که د اعتبار وړ نۀ دی يو خو څۀ د قيام تصديق نۀ کوي چې د هغوئ د ټولو کتابونو د 1132هـ ټاپه او مهر لګېدلې وي او دغسې د هغوئ د ژوند اخيري شپږ کاله استوګنه په تل چوټيالۍ کښې تر بحث لاندې وروسته نيسو چې محل د نظر دی. دلته زما مقصد دا دی چې ميا صاحب تر کال 1148 او 1149هـ تر منځ د کندهار له ښار څخه وتلی دی چې د باچا سره د خفګان په دې سيمه باندې د جنګ او بد امنې او د نادر حمله کول يو علت د قوي ګمان په ډول نيسو. د صاحبزاده حميد الله په لاس د ميا صاحب د (بوري) درګۍ د کتب خانې يو کتاب شرح مختصر المعاني په لاس ورغلې وه چې په هغه باندې د مهر تاريخ 1142هـ دوئ په اکتسابات روحاني کښې ليکلی دی".(۴۱)

د ميا صاحب په کتابو باندې د 1132هـ مهر په اکثرو دستياب کتابو باندې لګېدلی دی. کېدای شي چې دا مهر هم درست وي خو دا ځينې ښکاره کېږي چې د ميا صاحب استوګنه په کندهار کښې تر 1149هـ پورې رسېدلی شي. يو بل ډاکټر ابو اعجاز رستم د ايکسپرس

اخبـار پـه هفتـه وار مېګـزين کښـې پـر ميـا عبـدالحکيم صـاحب يـو مضـمون پـه 9اګسـت 2009ء کښـې چـاپ کـړی دی چـې ځينـې تاريخونـه ئـې غلـط ليکلـي دي او د هـم دغـو مـوادو څخـه ئـې اسـتفاده کـړې ده. مـثلاً د حصـن الايمـان د ليکلـو تـاريخ 3 رمضـان المبـارك 1100هــ د 1788ء سـره برابـروي چې درست نۀ دی"(۴۲).

دوهـم د هغــه پــه کنــدهار کښــې د اوســېدو وخــت ئــې پــه قــاطع ډول 1121هـ تـر 1146هـ پورې راوړی دی چې سم نۀ دی ولې چې ميـا صـاحب تـر دغـو تـاريخو وړانـدې هـم پـه کنـدهار کښـې اوسـېدلی ؤ چې د هغـه وروسـته پېښـور او لاهـور تـه تللـی ؤ. دا ځکـه چـې د هغـۀ کتـاب حصـن الايمـان پـه 1100هـ کښـې ليکـل شـوی دی چې پـه دې دوران کښـې بـه هغـه يـا پـه پېښـور کښـې وي او يـا پـه کندهار کښـې. کـه چرې د کنـدهار وخت وګڼـل شي نـو بيـا د ميـا صـاحب اسـتوګنه تـر پينځـۀ ويشـتو هـم اوړي. دوهمـه خبـره و دکـې تـه د تـګ وخـت 1147هـ ليکلـی دی چـې يـو کـال د خـانوزيو اسـتوګه هـم ګمـان کـوي لـېکن د تـاريخي واقعـاتو لـه رويـه ميـا صـاحب تـګ 1148 يـا 1149هــ ګمـان تـه زيـات نـزدې دی. د فـرانس يـو ليکـوال مائيکـل آکـس وورتـي پـه خپـل کتـاب "شمشـير ايـران نـادر شـاه" کښـې د نادرشـاه پـر کنـدهار بانـدې د اوږدې محاصرې په حقله ليکي:

"باګذشـت ده مـاه از محاصـره کنـدهار صـبر نادرشـاه بـه سـر آمـد و سـر خـوردګی او بـدل بـه خشـم د بـدګماني فزائنـده شـد، هيچګـاه دوسـت نمـی داشـت مـدت زيـادي دريـك محـل ببخـودي معطـل شـود. در تابسـتان و پائنـد سـال 1737/ 1150هــ ق بـا مراجعـت او نيروهـائ او تقويـت شـد. امـا تعـدادی از فرمان دهان از سر خوردګی و اخلاق تند نادرشاه درعذاب افتد"(43).

(ژبـاړه: د لسـو مياشـتو د کنـدهار د محاصـرې د تېرېـدو نادرشـاه صـبر لـه لاسـه ورکـړ او سـرګرداني ئـې پـه خشـم او بـدګمانۍ پـه زياتوب بـدل شـو. يـو ځـائ ئـې ملګري هـم نۀ وو او ډېـر وخـت پـه يـوه ګوښـه د بـې خـودي پـه حـال کښـې ډوب ؤ. پـه کـال 1737 دوبـي 1150هـ کښـې د هغـه فوځونـه چـې تـر

فتح او کنټرول لاندې تابعدار وو هغه مضبوط شو او ځينې نادر د بد اخلاقي او لېوتوبه څخه په عذاب کښې مبتلا وو.

د ايران يو مؤرخ ډاکټر رضا شعباني په خپل تاريخ کښې ليکي:

"محاصرۀ کندهار يازده ماه به داوز کشيد. در نهم شوال 1151 نيروهابي مرکزي از چند نقطه به استحکامات قندهار حمله کردند و مواضع عمده را به تصرف در آوردند. دستۀ ديگری از سپاهيان از سمت شمال خاوري به حمله پرداختند و قعله مستحکمی بۀ نام "چل زينه" را با چهارده باروی ديگر تسخير کردند"(44).

(ژباړه: د کندهار محاصرې يوولس مياشتې اوږدوالی واخيست په نهم شوال 1151هـ مرکزي فوج نور يو څو اړخونو په مستحکم ډول په کندهار حمله ورکړې او چې اهم ځايونه په قبضه کښې راولي. يوه بله دسته د شمال لوېديځ له خوا حمله شروع کړه او زوروره قلعه چې د چهل زينې د څورلسو وارو لښکرو سره بيا تسخير کړي.)

پوهاند حبيبي په خپل کتاب "تاريخ مختصر افغانستان" کښې ليکي:

"نادرشاه در دوم شوال از سيستان گذشت و به شوال از دلخك و دلارام به قلعه ګرشك کنار هلمند رسيد و بعد از تسخير آنجا به 21 شوال از هلمند گزشت و در اوائل ذيقعده (1149هـ 1736م) قلعه محکم قندهار را که پايه تخت هوتيکه بود به محاصره کشيد".

(ژباړه: نادرشاه په دويم شوال له سيستان څخه تېر شو او په شوال له ديخك و دلارام څخه د ګوشك قلعه د نيولو سره هلمند ته ورسېد او د هغه د تسخير وروسته په 21 شوال له هلمند تېر شو او د ذی القعده (1149هـ 1736ء) د قندهار مضبوطه قلعه د هوتکو وه هغه ئې محاصره کړه"(45).

عبدالرؤف بېنوا په "ميرويس نيکۀ" نومي کتاب کښې هم دا تاريخونه د کوچني اختر تر هلمند را پورې بوتل وګڼي او په 1149 د ذی القعدې په اوايلو کښې د کندهار محکمه قلعه محاصره کړي"(46).

لارنس لارك هارټ په خپل کتاب کښې ليکي چې: "نادرشاه تر ارغنداب را ويوست نو د کوکران د کندهار څخه اووۀ ميله لرې په

لوېديځ واقع دی چې د هغه وروسته د قيشون د غرونو سلسله ده چې لوئ دفاعي مرکز ؤ خو د دې سره د نادر فوځونه د ختيځ په لوري ولاړ او بيا ئې کوه بقا قلعه د افغانانو د ګولـه بـاري باوجود د ختيځ په لوري ايراني اسپي ورسـېدلي. په 18اپرېل 1737دوه ميله د قندهار څخه لرې د ښېر سرخ پر ځـائ ودرېدلی او دالتـه ئي يو ښار نادر آباد جوړ کړ. هر فوځي ته ئې حکم ورکړ چې يو يو مکان جوړ کړئ. دېوالونه، ماجتونه، حمامونه، بازار او د ارام ځايونه ئې جوړ کړل. او يو دم يو روغ ښار جوړ شو چې نوم ئې نادراباد کښېښود"(47).

پـه 23 مـارچ 1738ء 2 ذی الحجـه لـوئ بـرج ونيـول شـو او مـلا ادينـه د چهـل زينــې سـره د جمعــې پــه ورځ د لمانځـۀ پــه وخـت بريـد وکـړ او هغـه مغلـوب شـو او توپونـه ئـې بانـدې وچلـول. د شـاه حسـېن خـور بـي بـي زينبـه نادرتـه د سـردارانو پـه ملګرتيـا ننـواتې ورغلـه او هغـو احتـرام ورکـړ او دوئ هغه وبخښل او احمد شپاړس کلن ئې هم قيد کړ"(48).

د نـادر قزلبـاش يـو فرانسـوی طبيـب ؤ چـې د هغـه خطونـه او يـاد داښـتونه يـوۀ پـادري بـازن ليکلـي دي چـې د هغـۀ نـوم "نامـه هـائ حيـرت انگيـز". (LETTRES EDIFANTES ET CURICUES) چـې پـه کـال 1159 کښـې ليکـل شـوی ؤ او دوويشـت کالـه وړانـدې پـه پېـرس کښـې چـاپ شـو او آقـائ ډاکټـر علـي اصـغر حريـري اوړېـدلي ؤ چـې د هغـه څـۀ بهـرام افراسـيابي د (عقـاب کـلات و خـاطرات طبيـب مخصـوص نـادر) نامـه لـه تهـران څخـه پـه مهـر فـام 1387کښـې چـاپ کـړ. داکتـاب 917 صـفحات لـري. په صفحه 426 کښې ليکي:

"قلعـه کوشـك در حـريم کنـدهار و کليـد فـتح جلعـۀ هنـدهار ( محـل حکمرانـی حسـين هـوتکی) بشـمار مـي رفـت بـدون دسـتيابی بـه قلعـه کوشـك دسـترس بـه حسـين افغـان محـال بـود. حسـين هـوتکی همـان کسـی اسـت کـه از دادن خواهرخـود بـه نـادر امتنـاع ور زيـد و سـيدال خـان برائـی سـخت کردن فرستادگان نادر فرستاد".

(ژباړه: قلعه کوشك (د نارنج ماڼۍ) د کندهار په حرم کښې او د کندهار د فتح کولو کيلي معلومېدله چې د حسېن هوتك حکمراني محل ؤ. د دې قلعې د اخستلو بغير حسين افغان ته رسېدل محال ؤ. حسېن هوتکي هغه سړی دی که د خپل خور چې نادر ځيني غوښتې وه امتناع کړه او سيدال خان ئې د نادر د استاځو د نيولو دپاره استولی ؤ. دا وقاعه د جهان کشائ نادري او په نورو ايراني تاريخونو کښې ياده کړې ده خو افغاني او انګرېز مؤرخين دا واقعه نۀ ده ذکر کړې خو په دې کښې چې نادر د شاه حسېن خور غوښته نو د دې د يادونې سره دا خبره يو عوامي خبره جوړه شوې وه چې کوم وخت شاه حسېن د دلاور خان سره د دوستۍ خبره کړې وه او هغه مشروط منلې وه نو بيا داسې روايت په ميا عبدالحکيم په رضا مندۍ سره تړل هېڅ معقوله خبره نۀ ده بلکې د پخوا باچهانو دا دود ؤ چې د فتحې وروسته به ئې ښځه غوښته"(49).

په تاريخ سلطاني کښې چې په کوم کال د شاه حسېن د مرګ نېټه 1149هـ شعبان ليکلې ده"(50). نو هغه درسته نۀ ده، پوهاند حبيبي ليکي چې: "دا بايد (1151 هـ 1737م) وائ"(51) او عبدالرؤف بېنوا دا تاريخ داسې ليکي چې بايد 1152هـ دی"(52).

د دې ټولو تاريخي حوالو څخه زۀ خپل هغه موضوع ته راځم چې مؤرخين د تاريخ د نېټو په حقله ټول يو له بل سره اختلاف لري لېکن زياتره يو بل ته ډېر نزدې دي. د ميا صاحب د کندهار څخه د هجرت کولو هغه ګمان چې حافظ خان محمد 1146هـ ټاکلی دی د پورتنۍ حوالو او تاريخي واقعاتو په رڼا کښې درست نۀ معلومېږي. پروفيسر صاحبزاده حميد الله د ميا عبدالحکيم "مجموعه رسائل" له خپله ځانه نوم "اکستابات روحاني" حضرت ميا عبدالحکيم رحمة الله ته ورکړی دی. په اردو ژبه کښې ئې مقدمه باندې ليکلې ده او ټول هغه معلومات چې حافظ خان محمد ليکلي دي هغه ئې راوړي دي او د تاريخ سلطاني څخه ئې حوالې ورکړي دي چې تاريخونه هم هغه ډول درست نۀ دي او نۀ ئې نوې اضافه کړې ده. د خلقو د خولې زباني روايات ئې ليکلي دي"(53).

د صاحبزاده صاحب په يوۀ بل اردو کتاب "تاريخ مختصر پشتون" کښې د شاه حسېن د هغه دور (1135هـ تا 1145هـ) ليکلی دی چې درست نۀدی بلکې دا 1149هـ 1150هـ ۏ. ورسره ئې يوه خبره هم متنازعه ده چې هغه ليکي:

"اور يوں پہلی افغان حکومت کی سقوط میں احمد خان کا بھی بالواسطہ ہاتھ تھا، کیونکہ غلجیوں اور ابدالیوں میں بہت پہلے سے قبائلی مخالفت و مخاصمت چلی آرہی تھی"(54).

حالانکې احمد خان او ذوالفقار خان خو د شاه حسېن سره ګډ ګرفتار شوي وو او مازندران ته لېږل شوي وو. وروسته بيا د ابداليانو او غلجيانو په ګډه يوه لويه جرګه نهه ورځې په کندهار کښې جوړه کړې وه چې احمد شاه بابا ئې باچا ټاکلی ۏ. او فقير صابر شاه د هغه نوم منتخب کړی ۏ. يوۀانګرېز مؤرخ دا هم زياته کړې ده چې د جرګې د جريان په وخت کښې به صابر شاه په بازار کښې ګرځېدی او په زوره به ئې نارې وهلې چې احمد شاه باچا کېږي"(55).

د دې واقعې څرك شايد حافظ ادم خان علي کوزي له چا څخه اورېدلی وي چې بيا سينه په سينه تر شلمې پېړۍ پورې دوئ په خانوزيو کښې حافظ خان محمد ته دا روايت کړی وي چې ميا صاحب په کندهار کښې احمد په کښېنوني ليدلی ۏ او د باچهي زېری ئې ورکړی ۏ. يقيناً ملا آدم د سراج التواريخ روايت وئيلی دی چې له مخه ذکر شو. د ملا ادم تر روايت د صابر شاه خبره زياته مستنده ده چې انګرېز مؤرخ ئې په بازار کښې د ګرځېدو په وخت د وينا روايت کړی دی.

اوس دې بحث ته راځو چې د ميا صاحب خانقاه په هم هغه محاصره کښې وه چې د يوۀ کال څخه د نادر فوځونه د شرق او غرب څخه پر کندهار باندې راځرخېدلي دي. نو دلته امنيت عامه او انساني ضرورتونو او د تنګ راتنګ معمولات په نظر کښې نيول دي چې آيا زما هغه ګمان به درست نۀ وي چې ميا صاحب ئې د فوجونو د تجاهم او د امنيت په خاطر له خپلې خانقاه څخه هجرت د هندوستان په لوري کړی وي. په ښار کښې چې کوم متقابل فوځونه دي نو پښتانۀ په دواړو خواوو

وېشـل شـوي دي. دلتـه يـو بـل روايـت د صـوفيانو لـه لارې د پيـر ماذونـانو تـه رسـېدلی هـم دی چـې پروفيسـر رب نـواز مائـل د نقـش بنديـه د مسـلك يـو ستر سـالك هـم دی. هغـه د دې روايـت پـه حقلـه وايـي چـې د ميـان صـاحب يـو مريـد ئـې د نـارنج لـه مـانۍ را غورځـولی ؤ او ميـان صـاحب پـه دې خوابـدی شو او ښار ئې پرېښود.

بـل علـت دا هـم پـه نظـر کښـې نيـول دي چـې غلزيـانو د کنـدهار پـه مځکـو او پـه ځوکيـو بانـدې قـابض هـم وو او ابـداليان لـه هغـو ځـايو ځخـه بـې ځايـه شـوي وو او د دوئ تـر مـنځ حساسـيت تـر دې حـده موجـود ؤ چـې عـين پښـتنو د نـادر لـه خوا پـه کنـدهار بانـدې حمله کولـه چـې دا د پښـتنو پـه تـاريخ کښـې يـوه لويـه سـتم ظريفـي ده. کلـه چـې د ميـا صـاحب ډېـر مريـدان او عقيـدت منـدان وو او هـه ټـول د يـوې منـورې طبقـې خلـق وو. لمـونځ، دعـا، چېلـه، سـبق او درس و تـدريس د دوئ مشـغله وه او د دوئ ځخـه هـېڅ داسـې خطـره نـۀ وه او نـۀ داسـې مثـال د افغانسـتان پـه ټـول تـاريخ کښـې موجـود دی ولـې چـې مريـدانو وسـله را واخسـتله او د حکمرانـۍ او د قبضـه ګيـرۍ پـه دنـده ئـې لاس پـورې کـړ. ځکـه نـو د سـلطان محمـد خـان دا روايـت ګرسـره غلـط دی چـې ميـا صـاحب ئـې پـه بـې عزتـۍ لـه ښـاره د ايسـتلو حکـم ورکـړی وي. حـافظ خـان محمـد هـم د باچـا د خوابـدۍ خبـره د شـك پـه انـداز کښـې ليکلـې ده چـې يـا شـايد پـه بلـه وجـه شـاه حسـېن لـه قندهاره د وتلـو حکـم کـړی وي. او بله جمله داسې ده چې د دۀ د ازار سبب ؤ که اتفاقيه امر ؤ"(56).

پـه 1149هـ پـه کنـدهار نـادر راغـی د دې ځخـه د موصـوف زړۀ بيـا هـم نـۀ منلـه چـې اتفاقيـه ئـې وئيلـې ده. حـالانکې نـۀ د ازار خبـره ده او نـۀ د هغـوئ بې عزتې شوې وه.

قاضـي عبـدالحليم اثـر پـه روحـاني تـړون کښـې پـه صـفحه 729 ليکـي چـې: "خـدائ پـاك ښـۀ پـوهېږي چـې حضـرت شـېخ ميـا عبـدالحکيم عليـه الرحمـة تـه رنـځ او ازار پېښـولو وجـه وه کـه بـل څـۀ سـبب ؤ"(57). د رنـځ او ازار خو يـو ثبـوت هـم د تېـر غلـط روايـت بغيـر مـؤرخ تـه پـه لاس نـۀ دی ورغلـی البتـه د يـوۀ بـل سـبب اشـاره ئـې ضـرور ورکـړې ده چـې د بـد امنـي او تاخـت و

تــاراج اندېښــنه کېــدلی شــي. چــې پــه 1149هــ کښــې يعنــي د حضــرت ميــا صــاحب د جــلا وطــن کېــدلو نــه درې کالــه پــس پــه کنــدهار بانــدې نادرشــاه افشــار حملــه وکــړه". عبــدالحليم اثــر پــه خپــل دويــم مضــمون ميــا عبــدالحکيم رحمــة الله عليــه پــه اوولــس مــارچ 1964ء کښــې دا هــم ليکــي چــې هغــهٔ کنــدهار تــه لــه 1121هــ نــه وروســته راغلــی ؤ او هغــهٔ 25 کالــه پــه کنــدهار کښــې تېــر کړي وو.

لــه دې وينــا څخــه اثــر مرحــوم هــم زمــا د دې موقــف تائيــد کــوي چــې ميــا صــاحب پــه کــال 1149هــ کښــې د کنــدهار څخــه هجــرت کــړی ؤ. او بيــا يــو کــال خــو نادرشــاه کنــدهار کــړی ؤ. لــېکن د ازار پېښــولو کيفيــت هغــهٔ هــم نــهٔ دی ليکلــی او د بــل څــهٔ ســبب او علــت د پيــدا کېــدو امکــان ئــې هــم ښــکاره کــړی دی. ګواســړی دې تــه فکــر کــوي چــې دا هجــرت جبــري نــهٔ ؤ بلکــې اختيــاري ؤ. خــو د عقيــدت منــدانو د مينــې او جــدائي پــه ســوب ئــې پــه باچــا بانــدې تــور عــوامي خلقــو واچــولی چــې سياســي حــالات او فضــا برابــره نــهٔ وه او د نــادر شــاه فوځونــه پــه شــل ميلــهٔ پراتــهٔ وو. دا امکــان ضــرور شــته چــې د محاصــره شــوي ميــدان څخــه خلقــو تــه د ښــار پــه خــوا د مــرور کولــو حکــم ورکــړی شــوی وي. او يــا د امنيــت پــه خــاطر د زاړهٔ ښــار څخــه چــې خانقــاه هلتــه موجــوده وه د هغــه د خــالي کولــو حکــم ورکــړل شــوی وي ولــې چــې د دواړو خــواوو د ګوليــو او د جنــګ پــه نتيجــه کښــې اولــس پــه زد کښــې راتللــی شــو. زمــا دا ګمــان بــه نــور هــم لــږ اســتحکام ومونــد چــې نــادر د دې محاصــرې پــه دوران کښــې د کنــدهار شــرقي ســيمې او د بلوڅــو ســيمې تــه هــم پيــر محمــد خــان بلــوڅ اســتولی ؤ او هغــه ټولــه ســيمه تــر پشــين، شــوراوك او شــال پــورې د دوئ پــه تسلــط کښــې راغلــې وه. بيــا پيــر محمــد خــان چــې دا علاقــه فــتح کــړه نــو پــه غلــط فهمــي ســره نادرشــاه هغــه وژلــی ؤ چــې وروســته ئــې ډېــر افســوس کــاوه. فرانسوي مؤرخ مائيکل اکسس ليکي:

"ســال قبــل ازآن در ز دو خــورد هــای اطــراف کــلات غلزئــي عــده اي از يــاران حســين ســلطان از ســرحد ولايــت قنــدهار ګريختــه و در ســرزمين مغــولي هنــد پنــاه ګرفتــه بودنــد. آشــکار بــود کــه مقامــات مغــولي بــه رغــم

پيامهای پيش نادر شاه به دربار امپراتور که فراريان افغان را پناه ندهند يا ميل نداشتند و يا نمي توانستند آن را اجابت کنند. نادرشاه درماه مى 1737/ 15محرم 1151هـ ق بازهم براين موضوع پای فشرد اما پاسخي دريافت نکرد.(58)

(ژباړه: يو کال له مخه د دې شخړې له وجې دشاه حسېن ياران د کلات غلزي او له سرحد څخه د ولايت کندهار تښتېدلي وو او د مغولي هند په خوا ئې پناه اخستې وه. دا ښکاره وه چې د مغلو افسرانو د نادرشاه هغه پيغامونه چې مغلو امپراتور دربار ته استولي وو که د افغانانو دا فراريانو ته پناه مه ورکوئ يا څۀ تعلق مه ورسره ساتئ او يا داسې و نۀ کړل شو او د هغۀ پيغام ساتنه ئې و نۀ کړه. نادرشاه په مئ 1737/ 15 محرم 1151هـ ق بيا هم دا موضوع ور استولې وه خو د مغلو له خوا هېڅ ځواب نۀ ؤ ورته راغلی.)

د دې خبرې اندېښنه په دې وجه زما په فهم کښې راګرځي چې ميا عبدالحکيم رحمة الله عليه چې يو لوئ عالم او پير ؤ او ټول خليفه ګان او مريدان هم ورسره وو نو د دوئ د کوچېدو سره د اولسي خلقو چې ورته احترام ئې هم درلود دا خبره په عوامو کښې راغلې وي لکه تاريخ سلطاني چې وايي چې عوام د حيوانانو په ډول دي د دوئ په ذهن کښې د دې ازدهام وسوسه پيدا شوې وي چې يا باچا له دې مريدانو ويرېدلی دی او يا د عقيدت په وجه د دومره لوئ پير او صاحب علم د ساتنې خيال په اولس کښې مشهور شوی وي. يوه بله اشتباه دا هم په ذهن کښې راځي چې ميا صاحب د کندهار د شورش څخه لرې دومره ګوښه ځائ تل چوټيالې څۀ رنګه غوره کړه چې د دۀ خپل وطن يوسف کځ ؤ چې د فکر خبر ه ده. په دې لړ کښې ځينو ليکوالو د تبليغاتي يا نظرياتي اساس په وجه د يوۀ تاريخِ سلطاني د سخته غلطي اشتباه په وجه کړې ده چې د شاه حسېن غلزئي سره د شيخ اختلاف ئې واقعې ؤ او وورسته بې له څۀ حوالې ئې خيال انګېزي کړې ده چې ميا صاحب د ايران د حکومت ملګری ؤ او يا ئې پټه لار درلوده. اروانباد کانديد اکاډميسن محمد ابراهيم عطائي چې زما ډېر

مهربان دوست ؤ هغۀ هم غلط فهمي ته ديد کړی دی چې د کابل په ژوندون مجله کښې ئې د دې خبرې سپيناوی کړی دی چې دا خبره غلطه ده. حالانکې کانديد اکاديميسن عطائي مرحوم په خپل کتاب "د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه" کښې ئې په ښکاره ډول ليکلي دي چې د هوتکو د حکومت د نسکورېدو لو علت د دوئ په خپل منځ کښې اختلاف يو د بل وژل ؤ. هغۀ ليکي:

"هوتکيانو سره له دې چې د افغانستان د استقلال پيلامې ئې کښېښولې ولې قبيلوي خصلت ئې نۀ ؤ صقيل شوی او دا وجه ده چې د هوتکو رهبران يو د بل په ضد په اختلاف را پورته شول. د ميرويس خان خپل ورور عبدالعزيز ميرويس خان ته زهر ورکړل او دا کار ئې د ايران په لارښونه وکړ چې هغوئ به د پښتنو امات دۀ ته ورکړي. د ميرويس خان زوئ او نورو مشرانو عبدالعزيز له قصر څخه را وغورځاوه او مړ ئې کړ. د عبدالعزيز زوئ د ميرويس خان زوئ محمود چې لېونی شوی ؤ اداره ئې په خپل لاس کښې واخستله کله چې نادرشاه افشار ورته را پورته شو شاه اشرف په کندهار کښې حکمران شاه حسېن څخه چې د ميرويس زوئ مرسته وغوښته خو هغه مرسته ور نۀ کړه. کله چې اشرف له ايران نه راووت او د کندهار په .... کښې نۀ وروسته شاه حسېن ابراهيم خان بلوڅ ورمېږي او هغه ئې هلته مړ کړ په دې توګه د هوتکو قدرت ممننځل شو او نادرشاه کندهار ته روان روان او باچهي کورنۍ ئې مازندرن ته رابقيد او پسې قتل کړه"(59).

د تيمور شاه په دوره کښې عبدالغفار هوتك دا تاريخ منظوم کړی دی چې حبيب الله رفيع په "کتابونه دريابونه" کښې ثبت کړی دی"(60).

په دې تاريخي پېښو د سزاوو او بد دعاوو ځائ نۀ جوړېږي چې هغه ټوله اولسي او عوامي خبرې دي چې د تاريخ د واقعاتو له نظره څۀ حقيقت نۀ لري.

لکه څنګه چې عطائي مرحوم د ښاغلي ابوالخير ځلاند پر کتاب باندې ليکنه په ژوندون رساله کښې چاپ کړه او ضمناً ئې د ميان

صاحب په حقله وئيلي دي چې دا په هېڅ ډول د منلو وړ نۀ ده. يو خو ميا صاحب کله هم ايران ته تللی نۀ ؤ او نۀ ئې په تاريخونو او علمي حوالو د هغۀ ځۀ ثبوت اثبات شته چې د منلو وړ وي. د ايران مؤرخين ده جهان کشائي نادري تر ليکوال پورې د افغانستان او د هغۀ د خلقو په حقله يو بېلتون او حساسيت لري او ډېرې خبرې ئې د خيال انګېزۍ ډکې دي خو يوه خبره داسې نۀ شته چې د ميا صاحب په باره کښې دې څوک داسې بدګماني وکړي.

د ميا صاحب د کندهار ښخه د کوچ په لړ کښې ځينې شفاهي خبرې او په نولسمه پېړۍ کښې د اولسي شاعرانو له خوا هم عوامي غزلې له ميا صاحب سره د عقيدت په ډول وئيل شوي دي خو هغه د عقيدت په وجه دا اولسي شاعري هم هغه وخت شروع شوه کله چې سلطان محمد خان د ميا عبدالحکيم کاکړ په باره کښې دا خيال انګېزي وکړه او د هغه د تشهير په وجه په عوامو کښې د شاه حسېن باچا د هغه د ښار ښخه د وتلو حکم بنياد وګرځاوۀ. او ځينې شفاهي غزلې عين تر نن ورځې پورې مشهورې دي. د دې شفاهي رواياتو ښخه د يوه يادونه کول ضروري ګڼم چې کله ميا صاحب د کندهار ښخه د خپلو مريدانو په ملګرتيا کوچ کاوۀ نو د بلوڅو يا عسکرو د طور خېلو سيدانو په ملګرتيا د قلعه عبدالله خان را وروسته د دوئ په مخ کښې درېدلي وو چې بيا د يوۀ سل کلن سپين ږيري د ترين بتېـې زي قوم د خولې د پخواني روايت په اساس ټول ترينان دوئ پر شا تمبولي وو او ميا صاحب او د هغو ملګرو ته ئې پناه او بدرګه ورکړې وه. دا روايت حاجي محمد نور بتېـې زي د پشين بازار کهنه د ماسټر خدائ نور بتېـې زي (وفات 1991ء) ورور چې د هغۀ پلار حاجي جلال خان ترين د 95 کالو په عمر کښې په کال 1988ء کښې وفات شوی ؤ او دا قيصه ئې له خپلو مشرانو ښخه اورېدلې وه چې د بتېـې زيو يو وړوکی کلی د پير علي زئي قلعه عبدالله خان سره په خوا موجوديت درلود ممکنه ده ځينې عزيزان ئې هلته اوس هم پراتۀ وي. دلته يوه خبره د زيات پاملرنې وړه ده چې ميرويس نيکه په کال 1709ء کښې کندهار نيولئ نو په هغه کښې د

پشـــين ترينـــانو او كـــاكړانو لـــوئ لاس درلـــود. دا ځکـــه چـــې ميـــرويس ورتـــه وئيلـــي وو چـــې تاســـي ماليـــه مـــه ورکـــوئ او دوئ هغســـې وکـــړل، بيـــا چـــې ګـورجين د پشـين پـه سـيمه پسـې وتلـی ؤ نـو ميـرويس خـان پـه پټـه د منتشـرو قبـايلو سـره پـه هنـر ګـورجين يـوې ډوډۍ تـه مېلمـه کـړی ؤ چـې د ګـورجين پـه جامـه کښــې ئــې د دوئ کــار تمــام کــړ. وروســته پــه کــال 1733ء شــاه حســېن غلـزي پـه براهويـانو پسـې راوتلـی او د پشـين ورانـه کـړې قـلا ځخـه ئـې قرارګـاه جوړه کړه او تـر مسـتونګه پـورې چـې ورسـېدی چـې هغـه ئـې هـم تـابع شــو (61). نــو دغــه کــال 1733ء چــې د 1146ء ســره ســمون خــوري چــې شــاه حسـېن ټـول پشـين او کوټـه نيـولې وه نـو د ميـا عبـدالحکيم صـاحب پـه دغـه کـال د کنـدهار ځخـه د راوتلـو امکـان درسـت نـۀ معلـومېږي. د افغانسـتان يـوه غـوره مـؤرخ جـي بـي ميلـي سـن دی چـې ډېـر اعتبـار وړ تـاريخ ئـې پـه کـال 1878ء کښـې ليکلـی ؤ او پـه کـال 1984ء کښـې بيـا چـاپ شـو خـو د امريکـې لـوئ پروفيسـر لـوئ دوپـري پـه سـريزه کښـې ليکلـي دي چـې: "د کـال 104 کالـه پـس بـه هغـه پـه قبـر کښـې خوشـحاله وي چـې د دۀ قـدرمن کتـاب چـاپېږي کـه ځـۀ هـم افغـان د دې هـر ځـومره سـتړيو ځخـه ويرېـږي بيـا هـم افغـان پاته کېږي. ميلسن د شاه حسېن په حقله ليکي:

"The five years that had elapsed since the death of Ashraf has ben prolific succers for his conqueror.(58 ) .

(ژبــاړه: د اشــرف د مــرګ وروســته د هغــه د حکومــت د بريــاليتوب او خوشــحالي يــوه اعلــی ترينــه نمونــه وه. دويمــه خبــره چــې نادرشــاه ورتــه ګورنري وړاندې کړي نو دۀ ورته په ځواب کښې وئيل ميلسن ليکي:

"That fall the gifts of God to man national liberty is the most precious and the only reply he had vouchsafed was to strengthen the fortification of Kandahar (63)"

(ژبـاړه: د خـدائ لـه خـوا تـر ټولـو لويـه تحفـه د قـام او وطـن ازادي ده او هغـه بېخـي قدرمنـه ده او يـوائينی ځـواب چـې هغـۀ ورکـړی ؤ هغـه د کنـدهار استحکام او ساتنه ده).

د دې خبرې تکرار په دې حواله کوم چې په کندهار کښې د هغه وخت د يوۀ تذکره نګار محمد هوتك د پټې خزانې کتاب په حواله چې يو خوشحاله دوران راغلی ؤ. او خلق په ارام وو. د محمد هوتك د هغه ليکلې خبرې تصديق انګريز مؤرخ هم کړې دی چې ځينو اشتباه کوونکو له نظره غورځولې وه.

ميا عبدالحکيم نانا صاحب، ميا فقير الله، ميا عمر د څمکنو د پښتنو د سيمې د هغه وخت داسې روحاني مشران او د سترې درجې خلق وو چې د خلقو روحاني تربيت ئې کاوۀ. ميا فقير الله او ميا عمر د څمکنو خو احمد شاه بابا ته خطونه ليکلي وو چې په هند کښې د مسلمانانو د مذهب او ژوند خطره ده او شاه ولی الله دهلوي (محمد معظم شاه) خو هغۀ ته د حملې دعوت ورکړی ؤ. بيا هغه ؤ د پاني پت پر ميدان د مرهټو زور مات شو. ميا فقير الله د احمد شاه بابا سره ښۀ تعلق درلود او د هغۀ د زوئ تيمور شاه خو ئې شاګرد ؤ او خطونه ئې ورته استول. دغسې ميا فقير الله، ميا عبدالحکيم نانا صاحب ته هم څو مکتوبونه ليکلي دي چې د هغه په مکتوباتو کښې پوهاند حبيبي ذکر کړي دي"(64).

په دې اساس وئيلی شو چې د ميا صاحب د ميرويس بابا عبدالعزيز څخه بيا تر محمود اشرف او شاه حسين پورې ښۀ تعلقات وو. د تعلقاتو د خرابۍ خبره د ابداليو او غلجيو د قومونو هغه حساسيت ؤ چې اثر ئې د عوامو تر خولو راورسېد. حالانکې په دې پورتني نقش بنديه وليانو کښې يوۀ هم د باچهي کولو خواهش نۀ ؤ. دا خو ولي الله خلك او فقيران وو چې د خلقو روزنه ئې کوله. او دعا به ئې کوله. پير دعا کوي، بد دعا نۀ کوي. د هغه وخت يو اولسي سندره صاحبزاده حميد الله په خپل کتاب "د غرو څوکې" کښې داسې يادوي:

ميا د ښاره څۀ را و ووت شاه حسين په ژړا
ياره هېڅ ځای ورنۀ کړئ چې ميا تور دی د باچا باچا(65)

له دې څرګنده ده چې د ميا صاحب د کندهار څخه په راوتلو کښې هم شاه حسين په ژړا وو. نو دا څنګه کېدای شي چې هغۀ دې په استولو

مجبور کړی وي. دا چې چا ځای نۀ ورکاوۀ هم محل د نظر ده چې حافظ خان محمد ليکي چې: "په خانوزيو کښې ئې يو کال تېر کړی ؤ، ميا صاحب نۀ په خانوزيو کښې زيات قيام کړی ؤ او نۀ په خپل کلي کښې بلکې د رود او د زيارت د ناوې څخه تېر شوی ؤ او هر ځای ئې ځۀ استوګنه کړې وه او د رود سګرن، کدين، زيارت، سمالن، بوري، دکې او وروسته تر تل چوټيالۍ پورې تللی ؤ او هم هلته ئې مستقله استوګنه غوره کړې وه. د هغۀ د کتب خانې ثلور پينځۀ نسخې او يو قرآن شريف زما په تصرف کښې دی چې د ميا صاحب په مبارکو ګوتو سره د هغۀ ورقې اړول شوي دي. په هغو کښې يو ډېر مهم د شرح عقائد حاشيه عبدالحکيم سيالکوټي ده. د دومره لوی عالم، روحاني پير او اخلاقي رهنما څخه د بد دعاوو هېڅ توقع نۀ شي کېدای.

حافظ خان محمد چې کله د حصن الايمان نسخه وموندله نو په هغه باندې 1100هـ تاريخ ليک ؤ نو له دې څخه د هغۀ د عمر اندازه 1070هـ ولګوله چې دا ګمان ئې په د کتاب ديرشو کلونو په عمر کښې يقين کړی دی چې دا وروسته او وړاندې هم کېدلی شي. زما خيال دا دی چې دا تاريخ 1075هـ ته قريب يا وروسته دی ولې چې لومړی ميا صاحب د کندهار څخه سيد ميا لعل جيو ننګرهاري څخه د فيض اخستلو دپاره تللی ؤ چې په هغه وخت کښې د حصن الايمان کتاب دوئ ليکلی ؤ. وروسته هغه دوئ د پېښور حافظ عبدالغفور را استولی ؤ. ګوا دوئ په ننګرهار کښې هم سکونت کړی دی. د نور فيض او روحاني تربيت دپاره حافظ عبدالغفور پېښوری په هغه وخت کښې ډېر مشهور ؤ چې د شېخ صالح کشميري زوئ ؤ او هغه له حاجي اسماعيل عوزي څخه د نقش بنديه مجدديه طريقه د ارشاد کښې اذن موندلی ؤ. هم دغه حافظ د شېخ سعدي لاهوري څخه استفاضه هغه وخت کړې وه چې خرقه ئې موندلې وه چې وروسته د برات په مياشت کال 1116هـ کښې ئې وفات وکړ او زيارت ئې د پېښور په صدر بازار شرقي تاڼې ته نژدې واقع دی"(66).

میا عبدالحکیم صاحب د دې حافظ عبدالغفور څخه فیض اخستی ؤ او د دهٔ خلیفه ؤ. حافظ عبدالغفور میا صاحب لاهور ته خپل استاد حافظ الله یار ته واستولو چې له هغهٔ څخه ئې تکمیل وکړ. د حافظ الله یار تفصیل په موجوده تذکرو کښې نهٔ شته. قاضي عبدالحلیم اثر افغاني هم د هغهٔ یادونه نهٔ ده کړې او ما په بل ځائ کښې څهٔ معلومات و نهٔ موندل خو د میا صاحب استاد حافظ عبدالغفور د لاهور د شېخ سعدي لاهوري بلخاري څخه هم بیعت کړی ؤ چې شېخ المشائخ ؤ"(67).

کله چې میا عبدالحکیم صاحب په څلورو واړو طریقو کښې خلافت تر لاسه کړی ؤ او د عالیه طریقې نقش بندیه ماذون ؤ نو زیات امکان دا دی چې په لاهور کښې د حافظ الله یار او شېخ المشائخ سعدي لاهور څخه ئې هم فیض حاصل کړی دی. دلته میان صاحب د یوهٔ مرید سعدالله کاکړ سلېمان خېل حواله ډېره ضروري ده چې هغهٔ یو کتاب "مقامات العرفاء المسمیٰ به تحفة القیوم" په نامه په کال 20شوال 1378هـ (1948ء) کښې (دکی،) چوتیالی، څخه چاپ کړی دی په دې کښې ئې د تصوف مقامات لیکلي دي او د نقش بندیه په شجره کښې لیکي: "میان صاحب اولاً از میان عبدالغفور صاحب پشاوری باز میان سر سید لعل صاحب ننګرهاري بعده او از محمد سعید صاحب لاهوری بود که کنیه محمد سعد حافظ الله یار نیز است"(68).

دا بېخي نوې حواله ده چې په هېڅ یوه تذکره کښې نهٔ شته او د حافظ الله یار تذکره چې بل ځائ نهٔ شته نو یقیناً دا خبره یو صداقت لري چې حافظ الله یار دی د حافظ سعدي کنیت وي.

پوهاند رشاد لیکي چې شېخ میا عمر د څمکنو د شېخ سعدي لاهور او شېخ یحیٰ اټکي (د اټک حضرت جي) سربېره د شېخ سعدي د تربیت یافته ګانو لکه مولانا قطب مشواڼی (1108هـ مړ) حضرت سید عبدالشکور اټکي (1113هـ ق مړ) او حضرت شېخ عبدالغفور پېښوري (1116هـ ق مړ) له خدماتو او صحبتو څخه هم فیض اخستی ؤ"(69).

دا ټولـه شـېخان د نقـش بنديـه ماذونـان وو او ميـا عبـدالحکيم د دغــو ټولـو شـېخانو پـه ژونـد کښـې پـه پېښـور کښـې موجـود ؤ. نـو ځکـه د دوئ سـره رابطـه او استفاضـه يـو عـين د طريقـت مسـلك او يـو عـام روش دی. او پـه هـم دغـه وختونـو کښـې ملاقاتونـه شـوي دي. حضـرت شـېخ سـعدي بلخـاري د مجـددي نقـش بنـدي حضـرت سـيد ادم بنـوري پـه لويـو خلفـاوو کښـې ؤ چـې شـېخ ادم بنــوري حـرمين شـريفين تـه لاړو او هـم هلتـه وفـات شـو نـو شـېخ سـعدي ئـې پـه لاهـور کښـې څلورښـت کالـه پاتـه شـو او ډېـر باکمالـه بـزرګ د نقش بنديه مسلك ؤ"(70).

د ميــا عبــدالحکيم اســتاذ شـېخ حــافظ عبـدالغفور او د هغــهٔ اســتاذ حـاجي محمـد اسـماعيل غـوري د هـم دې شـېخ سـعدي خليفـه ګـان وو. مفتـي غـلام سـرور لاهـوري ليکـي چـې شـېخ سـعدي د شـېخ ادم بنـوري سـره حـرمين شريفين ته تللی ؤ چې هغه وفات شو نو دی بېرته لاهور ته راغی"(71).

پـه مدينـة الاولیـاء کښـې د تحقيقـات چشـتي پـه حوالـه دا هـم وايـي چـې شـېخ ادم بنـوري لـه لاهـور څخـه بيـت الله تـه تللـی ؤ. او شـېخ سـعدي ئـې دلتـه پرې ايښی ؤ"(72).

د حــافظ عبــدالغفور پېښــوري د نقــش بنديــه لــه دې ټــولې حلقــې ســره تـړون ؤ تـر دې حـده چـې د مجـدد الـف ثـاني شـېخ احمـد سـرهندي زوئ خواجـه معصــوم ســرهندي پــه مکتوبــات کښــې يــو مکتــوب د ميــا صــاحب اســتاذ حافظ عبدالغفور ته هم ليکلی دی. چې يو اقتباس ئې په دې ډول دی:

"تاسـې لکـه څنګـه چـې د ژوبـل شـوي فقيرانـو سـره د خـدائ ډېـره مينـه لـرئ نـو ځکـه دا هيلـه ده چـې دا مينـه بـه ډېـره ښـهٔ نتيجـه ورکـوونکې ثابتـه شـي. او کشـائش کـار (يعنـي نـور ورونـه د کشـف خـلاص شـي. د تصـوف اصـطلاح ده) تـر لاسـه شـي تـر درجـه فنـا و بقـا لـه مخـه چـې قسـم قسـم حـالات چـې د اهـل سـلوك پـه دوران کښـې پـه طلـب کـوونکي بانـدې راځـي ښـکاره کېـږي هغــه مقصــود نــهٔ دی، فقيــر حــق دی، طالــب د حــق دپــاره د خــدائ ماسـوا لـه هرڅـهٔ څخـه مـخ ګرځـول ضـروري دی. دا ځکـه چـې توجـه خرابـه نـهٔ شـي پـس چـې څـوك د احـوال کيفيـاتو طلـب کـوي هغـه پـه ماسـيوا کښـې

ګرفتاره دی. هو! فنا او بقا د مقاصدو څخه دي د هغۀ د تحصيل زيار باسه. او د دې دروېزه ګري کول يو لوئ کار دی. ولې چې ولايت له فنا او بقا سره مربوط دی او معرفت چې د انساني تخليق مقصود دی له دې مقام سره تړلی دی. د شوق هغه جذبه چې د عشق جذبه په عالم مجاز کښې ښکاره کوي په حقيقي لار کښې ضرورت نۀ لري. حقيقي عشق و محبت د هغه ذات سره تعلق چې بې کيفه او بېچونه دی"(73).

د شيخ معصوم سرهندي هغه خط چې د ميا عبدالحکيم استاذ حافظ عبدالغفور پېښوري ته ئې ليکلی ؤ له دې څخه ښکاره ده چې ميا صاحب بيا د هغه څخه کسب کړی دی او د ميا صاحب په مجموعه رسائل کښې چې صاحبزاده حميد الله د اکتسابات روحاني په نامه چاپ کړې دی په هغه کښې د ميا عبدالغفور جيو قدس سره طريقه ثاني داسې ليکي:

"بسم الله الرحمٰن الرحيم. اول فنافی الله و اثبات الله و عدم الاشياء و بېهوشي هم کائينات و بې شعوري از خود باتجلی بلقاء بعد لقا بالله فيه عدم الاشياء والسرور تام يعني محو شدن درسنت حضرت رب العٰلمين"(74).

(ژباړه: اول فنا په خدائ کښې او د خدائ اثبات او د اشياء نيستي و بې مورثي له ټوله کائيناته او له خپله ځانه بې شعوري د لقا د تجلي سره چې د هغه وروسته بقا له خدائ پاك سره. په دې کې د اشياء نيستي او مکمل سرور يعني په حضرت رب العٰلمين کښې محوه کېدل دي.)

هم د اکتسبات د حضرت شيخ معصوم له خط څخه ښکاره دی چې حافظ عبدالغفور ته ئې ليکلی ؤ.

مياعمر د څمکنو په خپل کتاب "خزينة الاسرار" کښې ليکي چې شيخ سعدي لاهوري په کال 1099هـ کښې له لاهور څخه پېښور ته راغلی ؤ. سيد يوسف اکبر پورې اين سه کلمات (شيخ سعدي آمد (1099هـ) را مستعمن تاريخ آمدن آنحضرت په پشاور يافته بود"(75).

کله چې ميا عبدالحکيم خپل کتاب حصن الايمان په 1100هـ کښې ليکي نو هم به تر هغه يو کال مخ کښې شيخ سعدي لاهوري د حافظ

عبدالغفور او نورو شېخانو د ليدلو دپاره پېښور ته راغلي ؤ. نو زيات باور کېږي چې د ميا عبدالحکيم ملاقات دي هم ورسره شوی وي.

د ميا صاحب حصن الايمان د اعتقاد په مسايلو ليکل شوی دی چې لومړی ډېر بسط او ويړ ؤ خو څو مسائل د سوال او ځواب په شکل کښې ليکلي دي چې اهل سنت والجماعت طالب علمانو ته په کار ورشي او د فاسدو عقيدو څخه د مخالفينو ئې بچ کاندي. دا د طالب علمانو سره بالخصوص ليکل شوی دی چې له اوږدو عبارت څخه وژغورل شي. اتۀ بابونه په کښې شامل دي. د سوال او ځواب دوې نمونې ستاسې مخ ته وړاندې کوم.

سوال: اگر گويند که قرآن اسم مرمعني اسم مرمعني است و يا نظم را و يا هر دورا.

جواب: بقول ابی حنيفه قرآن اسم مر معنی است دون النظم پس اگر کسې درنماز قرآن را به فارسي خواند و يا افتتاح نماز به فارسي کند روا باشد. اما بقول صاحبيه رحمهما الله قرآن اسم برنظم عربي روا نباشد مگر آنکه قادر نباشد بر عربی"(76).

(ژباړه: سوال: که څوك ووايي چې قرآن نوم او عبارت د معنٰی سره تړون لري که د نظم سره او يا د دواړو سره.

ځواب: د ابی حنيفه په قول د قرآن نوم او عبارت معنٰی ته اعتبار حاصل دی نظم ته نۀ دی ځکه نو که څوك په قرآني معنا په فارسي کښې په لمانځۀ کښې ووايي روا ده يا د لمانځۀ شروع په فارسي سره وکړي روا ده. ليکن په قول د صاحبينو خدائ دې په دوئ رحم وکړي وايي که قرآن عبارت عربي نظم او معنٰی ټولو ته اعتبار دی. پس نو د صاحبينو په قول لمونځ د عربي نظم بغير روا نۀ دی. مگر هغه وخت روا دی چې په عربي باندې قدرت و نۀ لري.)

سوال: که څوك ووايي چې د مړي څخه سوال د ژوند بغير محال دی او که ژوند په گور ورلره راشي نو بيا مرگ د اخروي ژوند وروسته محال دی او معلومه ده چې مړی تر قيامته ژوندی کېدای نۀ شي.

ځواب: زۀ وايم چې دا سوال په لومړي سر کښې د ژوند د پيدا کېدو په وخت بغير روح شوى دى لکه څنګه چې د دقائق الاخبار کتاب په ترجمه کښې وئيل شوي دي چې په حيوانانو کښې ژوند شته خو روح نۀ شته. د مرګ په حالت کښې هم په قدر د ژوند قادره دي. بغير له روح څخه چې د هغو سره سوال وکړي. د هغه پس هغه ژوند نابوده شي"(77).

داسې نور هغه عقيدوي مسائل په دې کتاب کښې د سوال او ځواب په ډول د قرآن د آيتونو په تشريح کولو سره ذکر شوي دي چې د مبتدي طالب علمانو دپاره زيات اهميت لري.

د ميا عبدالحکيم نانا صاحب په حقله د حافظ خان محمد دا لومړى مضمون په پښتو کښې چاپ شو چې د تاريخ سلطاني او نورو شفاهي او زباني رواياتو څخه ئې د هغو د سيرت په ځينو اړخو بحث کړى دى. د پيدائش او وفات تاريخونه ئې اټکل کړي دي چې په هغه باندې د تاريخي واقعاتو له رويه بحث وشو چې د پيدائش کال پينځۀ کاله وړاندې وروسته کېداى شي. هم دغسې دوئ د محلي رواياتو له رويه د ميا صاحب په خانوزيو کښې د يوۀ کال قيام د کندهار څخه د راکوچېدو وروسته ليکلى دى. معلومه نۀ ده چې دا تخمين دوئ څنګه کړى ۆ چې د ميا صاحب کور او عزيزان په يوسف کڅ رود ملازئي کښې موجود ۆ. د عبدالعلي اخوندزاده د ځوانۍ تر زمانې پورې ملا عيسٰى اخوندزاده د هغۀ کورنۍ يو بزرګ هم هلته خپله خانقاه درلوده بلکې يوه زېر زميني ئې جوړ کړې وه چې ټول کتابونه ئې هم هلته موجود وو او په سپين اخوندزاده مشهور ۆ. او نوم ئې محمد عيسٰى اخوندزاده ۆ ځکه د ميا صاحب په خانوزيو کښې د يوۀ کال قيام درست نۀ معلومېږي او د هغۀ د مسلك او تصوف څۀ آثار په را وروسته زمانه کښې په خانوزئي کښې نۀ ښکاري. خو حافظ يوه خبره دا هم کړې ده او ليکي چې:

"دلته ئې مزيد استقامت نۀ وکړ، غالباً د شاه حسين له بدي له ضرره دلته هم نۀ ۆ په امن. بيا په غرو کښې روان شو په يوسف کڅ کواس بغاۆ سملن (سنځاوى) بوري، تل چوټيالۍ لره ولاړ"(78).

د تـاريخ لـه واقعـاتو څخـه دا وخـت هغـه شـمېرل کېـږي چـې شـاه حسـېن محاصـره شـوی دی او د نـادر فوځونـو د کنـدهار عـلاوه د پيـر محمـد خـان بلـوڅ پـه مشـري کښـې د بلوچسـتان پـه دې سيمه کښـې هـم پـه جنـګ اختـه دی او د شـاه حسـېن د ملګـرو د خـتم کولـو کـوتئي کـوي ځکـه نـو د شـاه حسـېن د بـدۍ کومـه خطـره موجـوده وه. وروسـته پـه تـل چوټيـالۍ کښـې د شـپږو کـالو د ژونـد اخيـري مـوده تېرولـو حوالـه يـوائې انګرېـزي منـابع ښـايي چـې پـه ګزټيـر کښـې پـه کـال 1907ء کښـې ثبـت شـوی دی. بـل داسـې شـواهد نـۀ شـته نـو لـه دې کبلـه چـې حـافظ د نانـا صـاحب د وفـات تـاريخ 1153ء اټکـل کـړی دی هغـه هـم مشـکوك دی. کـه چـرې دا شـپږ کالـه د دې ځـائ قيـام څـوك ومنـي هـم نـو بيـا د دوئ وفـات د 1155هــ او 1156هــ تـر مـنځ اټکلـولی شـو. د حصـن الايمـان پـه اخيـري صـفحه بانـدې د خپلـې مقـدمې تصـحيح نامـه ليکلـې ده پـه هغـه کښـې د صـفحه (ل) بانـدې د دې اټکـل شـوي تـاريخ په باره کښې يوه قطعه وفات ليکي چې:

"وائي له کتابت څخه پاته شوې ده. دا ده:

سال رحلت سروش گفت چنين :: گنج عرفان و هادی افغان (79).

د دې تـاريخي مـاده د هـر تـوري کـه بېلـه بېلـه راووزي هـم نـو هغـه 1153هـ نۀ ځنې جوړېږي.

افغـــان 1132 هـــادي 498 گـــنج عرفـــان 474

ســال رحلــت 1029 ســروش گفــت چنــين 1179هــ

پـه دې يـوۀ بيـت کښـې د سـروش گفـت چنـين څخـه د 1179هــ مـاده را وتلـی شـي چـې بيـا هـم د بـاور وړ نـۀ دی ولـې چـې يـو خـو قطعـه ئـې پـوره ورکـړې نـۀ ده يـو بيـت دی او دوهـم دا هـم نـۀ ده څرګنـده چـې لـه کـومې څخـه نقـل شـوې او چـا ليکلـې ده. د کـڅ احمـدون سيد جمعـه اغـا چـې خپـل ديـوان د "ائينـه" پـه نامـه چـاپ کـړی دی پـه هغـه کښـې د سـاداتو لـه لنـډ تـاريخ سـره سـره د ميـا صـاحب پـه بـاره کښـې هـم هغـه معلومـات راغونـډ شـوي دي چـې حـافظ خـان محمـد ليکلـي وو. لـېکن دلتـه سيد جمعـه اغـا د ميـا صـاحب د کنـدهار د اسـتاد نـوم سـيد احمـد جـان ليکلـی دی. دويمـه خبـره د غـوڅکۍ

قيام دی چې خپل خليفه ملا محمد طاهر سارنګزي سره استوګنه ده او هغۀ ته ئې د بابا خرواري خطاب ورکړ. په اخير کښې د ميا صاحب د وفات نېټه 1182هـ ليکي چې د هغه هېڅ حوال بل ځائ نۀ شته"(80).

زما په خيال دا تاريخ هم يو اټکل شوی دی چې درست نۀ دی که چرې دا تاريخ فرض هم کړو خو په دې دور کښې د ميا صاحب په باره کښې هېڅ يوۀ صوفي يا شاعر يا وقائع نګار د احمد شاه او تيمور شاه د زمانې د ميا صاحب يادونه به ئې ضرور کوله. د نولسمې صدۍ عيسوي په اخير کښې پر تل چوټيالۍ باندې يوۀ انګرېز ډاکټر ډيوك يو ژور رپورټ Refoyt on Thal Chutyali by Dr. DUKE ليکلی دی خو په هغه کښې هم د ميا صاحب په باره کښې هېڅ معلومات نۀ شته.

د ميا صاحب د ژوند او سوانح په باره کښې ټول شفاهي او زباني رواياتو زيات اهميت غوره کړی دی د هغه په نورو رسائلو او اذکارو اکتسابات روحاني او تعليم السلوك کښې د اذکارو او تصوفي افکارو علاوه نور حالات او تاريخونه نۀ دي ياد شوي ټول حالات په شفاهي رواياتو باندې ولاړ دي.

دلته د ميا صاحب د کورنۍ د يوۀ کره متولي مولوي عبدالغفار له خولې يو روايت موجود دی چې مونږ څومره قدر په هغۀ باندې باور کولی شو. مولوي عبدالغفار شموزی کاکړ د خپلو نيکۀ ګانو د خولې په روايت دا وئيلي دي چې د پېښور د استوګنې په وخت کښې ميا عبدالحکيم صاحب په پېښور کښې قيام د 1100ء څخه تر 1116هـ پورې يقيني دی او په هم دغه موده کښې که چرې ملاقات شوي وي نو هم له قياسه ليرې نۀ ده په دغه موده کښې رحمان بابا د يوۀ مشهور شاعر او درويش ملنګ په حيث نوم درلودی او ژوند ئې يقيني ؤ چې د شپېتو کالو کېدای شي. په دغه موده کښې د شېخ حافظ عبدالغفور او د شېخ سعدي لاهوري موجودګي هم په تاريخ ثابتېږي. شېخ ميا عمر د څمکنو په خپل کتاب "خزينة الاسرار" کښې د شېخ سعدي لاهوري په کال 1099هـ کښې لاهور ته تګ ښايي چې مخکښې د دې يادونه شوې وه. خو د ميا عبدالحکيم نانا

صاحب د خپل شیخ عبدالغفور تر وفات 1116هـ پورې په پېښور کښې قیام اندازه کولی شو. حافظ عبدالغفور به په کلیو او باندو ګرځېدو او کلي په کلي به ئې خلق د غلطو رسوماتو څخه منع کول. په داسې حالاتو کښې رحمان بابا هم په هزار خوانۍ کښې ژوند کاوۀ او شاعري ئې په عوامو او خواصو کښې مشهوره وه. ځکه د داسې لويو شېخانو او بزرګانو سره يو ډول رابطه او شهرت ئې ضرور درلود. د رحمان بابا داسې شاعري به د عالمانو او شېخانو توجه خامخا راګرځوله:

هسې نۀ چې واحدي ئې ده له عجزه
په واحد وجود بسيار دی رب زما
که صراط په کم دليلو توره شپه ده
د مرشد دليل ډيوه ګڼه افروزه
د مرشد نغوته روښانه ده له ورځې
د خپل خوئ تاريکي زياته ده له راجه
دلته حاشيه ده معنا توره شپه
که څوك وايي ليدۀ نۀشي ليدۀ نۀ شي
او که وايي و هر چا و ته عيان دی
د عشق لار د توکل په پښو غوڅېږي
نۀ په پښو د رياضت او ديانت
رحمان ځکه د ربيار متابعت کا
چې رهرو له رهنمايه محبت کا
بې مرشده څوك خبر د مرشد اخلي
څوك په غم د فرزندانو پدر بويه
په سبب د ظالمانو حاکمانو
کور او ګور او پېښور درې واړه يو دي (82)

مولوي عبدالغفار د تل نانا صاحب د مزار متولي دا روايت کوي چې زمونږ نيکه ګانو دا خبره د پخوانيو مشرانو له خولې اورېدلې وه چې د پېښور د استوګنې په وخت کښې د نانا صاحب ميا عبدالحکيم له

رحمان بابا سره یو ملاقات شوی ؤ. د هغهٔ ملاقات قیصه داسې کوي چې میا صاحب یو شاګرد مرید د دهٔ درګاه او استانې هزارخوانۍ ته وراستولی ؤ او دا ئې ورته وئیلي وو چې که چرې رحمان بابا په وجد او د ذکر په حالت کښې ؤ بیا څهٔ مه ورته وایه بېرته ځنې راړهي شه او که هغه په سم حالت کښې ؤ نو بیا سلام ورته عرض کړه او د ملاقات اجازه ځنې وغواړه. کله چې دا استاځی د رحمان بابا تر ځایه ورسېدی نو دا اندازه نهٔ ورته کېدله چې هغه په کوم کیف کښې دی او هغهٔ د میا عبدالحکیم پیغام ورته ووایهٔ. رحمان بابا ورته ووئیل چې کوم میا عبدالحکیم؟ زهٔ ئې نهٔ پېژنم او نهٔ ملاقات ورسره کوم. ورځه خپله لار دي نیسه او سختې خبرې ئې ورته وکړې. رویبار چې دا پیغام نانا صاحب ته راوړ او هغهٔ وفرمایل چې ما درته وئیلي ؤ چې هغه په خپل کیف او جذبي حالت کښې وي. بیا څهٔ مه ورته وایه. خیر له دې وروسته میا عبدالحکیم نانا صاحب په خپله مراقبه او ذکر و اذکار اخته شو. څو شپې نهٔ وې تېرې شوې چې رحمان بابا په خپله د میا عبدالحکیم په پوښتنه پسې راوتلی ؤ او پوښتنه ئې کوله چې د میا صاحب استانې او ځائ ته را ورسېدی او سلام ئې ورته وکړ او بخښنه ئې ځنې وغوښتله او دا ئې ورته وئیلي وو چې زهٔ په خپل حالت کښې نهٔ وم او ما نهٔ دی پېژندلی او وروسته ئې د میا صاحب د مراقبې د اثره هغه یوه غزل په کاغذ لیکلې وه او میا عبدالحکیم کاکړ نانا صاحب ته ئې وړاندې کړه. د پروفېسر رب نواز مائل یو روایت له خپلو مرشدانو څخه ئې اورېدلي وو هغه دا هم دی چې نانا صاحب شاعري هم کوله خو د هغهٔ شاعري او نور کتابونه تراوسه نهٔدي موندل شوي. میان فقیر الله شکار پورې دوئ په یو خط کښې هم لیکلي وو چې په مکتوبات کښې ئې یادونه شته. هغه غزل دا ده:

فوجدا عبدا من عبادنا اٰتینه رحمة من عندنا و علمنٰه من لدنا علما.

که نظر کا څوك په کار د درویشانو
خود به ووینې وقار د درویشانو
په دغه لارې به ورشي خدائ رسول ته

که څوك يون کاندې په لاره د درويشانو
هر ګفتار به ئې د خدائ په در قبول وي
چې قبول ئې وي ګفتار د درويشانو
هسې ګرم بازار بل په جهان نۀ شته
لکه ګرم دی بازار د درويشانو
په يوۀ قدم تر عرشه پورې رسي
ما ليدلی دی رفتار د درويشانو
همه خلق ئې زيارت کا پس له مرګه
چې بازار وي په مزار د درويشانو
بادشاهان د دې دنيا واړه پراته دي
لکه خاورې په دربار د درويشانو
هر بهار لره خزان په جهان شته دی
خزان نۀ لري بهار ددرويشانو
د جنت د باغ ګلونه به ئې هېر وي
که څوك ويني ګلزار د درويشانو
چې دنيا ئې کړه د خدائ دپاره ترکه
صد رحمت شه په روزګار د درويشانو
د قارون و حال ته ګوره حال ئې څۀ شو
راشه مه کوه انکار د درويشانو
په هر چا چې د غضب لينده کا کشه
خطا نۀ درومي ګزار د درويشانو
درست ديوان د رحمٰن زار تر دا غزل شه
چې بيان ئې کړو کردار د درويشانو

له دې وروسته هغه سره خواږۀ شو او يو د بل ملاقات ئې وکړ او ميا صاحب دعا ورته وکړه او رحمان بابا ځنې رخصت شو. د دې شفاهي روايت څومره حقيقت دی؟. مونږ نۀ شو وئيلی ځکه چې د دې تحريري ثبوت نۀ شته خو د نفس مضمون او د درويشانو او خدا رسېده شېخانو

چې کوم ذکر رحمان بابا په دې غزل کښې کړی دی هغه بې شکه يو لافاني پيغام دی چې دوئ دا هرڅۀ محسوس کړي او بيا ئې تر روحاني جذبې لاندې داسې شاعري کړې ده. د دوئ په پښتور ښار کښې په يوه زمانه قيام او موجودګي خو د تاريخ له رويه ثابته ده. تر دې حده مونږ باور کولی شوچې د دوئ ملاقات به يقيني شوی وي. رحمان بابا که څۀ هم ګوښه نشين ؤ او د دنيا د آلائشاتو څخه ئې ځان ژغورلی ؤ خو بيا هم د دنيا او د حالاتو او شا و خوا د پښتو ترجماني د هغۀ په شاعري کښې شته نو ځکه څوك په داسې روايـاتو باندې که څۀ هم شفاهي وي باور کولی شي. که د تصوف د روايـاتو او تاريخي روش څخه اندازه وکړو نو هغه ټوله په شفاهي روايـاتو باندې مبني دي ځکه د دې خبرې اهميت په يوۀ ښار کښې د دوو لويو شېخانو تر منځ د ملاقات امکان نۀ شي رد کېدلی.

بل طرف ته د شاعرانو اقوال او مضامين د نورو شاعرانو په اثر هم ليکلي شوي دي. ادبيات او مضامين سره مشترك دي. خو هر شاعر د شعري تلازمو په حواله خپل مافي الضمير په خپل انداز کښې بيانوي. مثلاً هم دغه غزل اروابناد دوست محمد خان کامل د حافظ د ديوان له دې غزل سره مقابله کړې ده او وايي چې ممکن ده بابا هم دا غزل د حافظ په دې غزل ليکلې وي. (83) چې د جذباتو او فکر يووالی په کښې شته خو بيا هم رحمان بابا خپل پښتني اظهار د خپل ادراك سره د شعر په بېلوالي او د قافيې په بدلون ليکلی دی او د رحمان بابا د پښتو رنګ او خوند زيات جوت دی او دواړه غزلې ديارلس شعرونه لري. د حافظ غزل داسې ده:

ای توانگر مفروش این همه نخوت که ترا
سر و زر در کتف همت درویشانست
روی مقصود که شاهان بد عامی طلبد
مظهرش آئینه طلعت درویشانست
بندۀ آصف عهدم که درین سلطنتش
صورت خواجگی و سیرت درویشانست
گنج عزت طلسم عجائب دا رد

فتح آن در نظر حشمت درویشانست
آنچه زر می شود از پرتو آن قلب سیاه
کیمیاست که در صحبت درویشانست
از کران تا بکران لشکر ظلمت وی
از ازل تا باید فرصت درویشانست
روضه خلدِ برمن خلوتِ درویشان است
مایهٔ محتشمي خدمتِ درویشان است
قصر فردوس که رضوانش بدرباني رفت
منظری از چمن نزهت درویشان است
دولتی را که نباشد غم از آسیب زوال
بې تکلف بشنو دولتِ درویشان است
خسروان قبلهٔ حاجاتِ جهانند ولې
سبب بندګئ حضرتِ درویشان است
ګنج قارون که فرو میرود از قهر هنوز
خوانده باشي که هم از غیرت درویشان است
حافظا! انیجا بادب باش که سلطان و ملك
همه دربندګئ حضرت درویشان است (84)

رحمان بابا یو آفاقي د زهد او عشق شاعر ؤ. په پښتني نړۍ کښې ئې شاعري ډېره مقبوله شوې ده. د هغهٔ افکار هم داسې ژور او د اخلاقو لوړ معیار تشکیلوي چې صحیح ژوند ځنې عبارت دی. هغهٔ ته یو صوفي شاعر وئیل شوي دي خو د هغهٔ په شاعري کښې د تصوف د ټولو مسلکونو ترجماني شته. هم وحدت الوجود شته هم وحدة الشهود شته او هم د دې ځخه ماورا عقلي او فلسفیانه مباحث د هغهٔ د شاعرۍ موضوعات دي. رحمان بابا تر یوهٔ مسلك پورې محدود نهٔ دی هغه د بې وزلې معاشرې ترجماني کړې او د ترقي پسندانه خیالاتو مضامین هم د دوئ په شاعرۍ کښې شته. ځکه رحمان بابا یو آفاقي او همه ګیر شاعر دی.

هغــه څــۀ پوښــتې لــه هجــره لــه وصــاله
چــې پــه خپلــه هــم محــب شــي هــم محبــوب
مکتـــــب حــــال د مـــــذهب وايــــــي
عشـــــق ســــوا دی لـــــه مذهبـــــه

د ميـا عبـدالحکيم نانـا صـاحب پـه بـاره کښـې د هغـۀ خپـل کتابونـه هـم خـاموش دي او د معاصـرو تـذکرو څخـه د هغـو روايـاتو تحليـل د وخـت د ثبـت شـوو تـاريخونو او واقعـاتو پـه بـاره کښـې تاسـې وځيرلـی او ځينـې حقـائق ستاسـې پـه مـخ کښـې وړانـدې شـول چـې هغـه د مؤرخينـو د روايـاتو او تـاريخي واقعـاتو پـه نتيجـه کښـې پـه عوامـو کښـې مشـهور شـوي دي. نانـا صـاحب د دې سـيمې يـو لـوئ سـتانه صـوفي او عـالم شخصـيت ؤ چـې زمـونږ پـه تهـذيبي، روحـاني او سياسـي تـاريخ بانـدې ئـې زياتـه اغېـزه کـړې ده. هيلـه ده چـې د پښـتو مخـور څېړونکـي بـه نـور حقـائق را برسـېره کـړي او د دې لـوئ سـتانه او فاضـل شخصـيت برکـات بـه زمـونږ د سـيمې پـه تـاريخ کښـې خوندي کړي.

و ما علينا الاالبلٰغ

# حوالې

(1) بريالی، عبدالکريم، پټه خزانه د حقيقت په آئينه کښې، پښتو اکېډمي کوټه، مخ 467.
(2) اتل خان، د پښتنو باچهانو تصوير نامه، محمد حليم سليمي کتابخانه، 864 هـ
(2) Afghanistan by Geueral Macmunn Fst Eiitian P xi 1919 - 1977.
(3) خان محمد، حافظ، (مقدمه) مختصر حصن الايمان، تصنيف عبدالحکيم، ميا نانا صاحب، بلوچستان بکډپو مسجد روډ کوټه، 1372هـ = 1952ء، مخ ع- ذ.
(4) ايضاً، مخ ط- ی.
(5) ايضاً، مخ ك.
(6) افغاني، اثر، عبدالحليم، روحاني رابطه او روحاني تړون، دارالکتاب باجوړ، مالاکنډ ايجنسی، مخ 723 – 725. د اولس رسالې دوې ګڼې، 1964 -1965.
(7) بريالی، عبدالکريم، د علامه حبيبي د اروا تر سيوري لاندې، حاجي ملا ظريف اخوند کاکړ فاؤنډېشن بروري روډ کوټه، 2009ء، مخ 193.
(8) ايضاً، مخ 192.
(9) خان محمد، حافظ، (مقدمه) مختصر حصن الايمان، تصنيف عبدالحکيم، ميا نانا صاحب، بلوچستان بکډپو مسجد روډ کوټه، 1372هـ = 1952ء، مخ
(10) ګوهر، سعيد، پټه خزانه فی الحقيقت، تعليقات نمبر 83، سکام ادبي اکېډمي کوټه، اګست 1996ء، مخ 193.
(11) خان محمد، حافظ، د کسې ګلان (تذکره) حافظ کتاب خانه مسجد روډ کوټه، 1989ء
(12) د ګلستان مجله، ګڼه 1957ء.

(13) خان محمد، حافظ، (مقدمه) مختصر حصن الايمان، تصنيف عبدالحكيم، ميا نانا صاحب، مخ ك، ل، م، ن.
(14) ايضاً، مخ ص، ك.
(15) ايضاً، مخ ل، ح، م.
(16) حافظ مرحوم په خپله مقاله كښې د دې منابعو حوالې د كتابو نومونه او صفحه هم ليكلې ده.
(17) خان محمد، حافظ، مشمولهٔ ګلستان مجله، ناچاپ(د عبدالعلي اخوندزاده ديوان ناچاپ مرتب عبدالكريم بريالى) 1957.
(19) ګنډاسنګهـ، ډاكټر، احمد شاه درانى، پښتو ژباړه نصرالله سوبمن، مخ21.
(19) كاتب، فيض محمد هزاره، سراج التواريخ، لومړى ټوك، د كابل چاپ، مخ 9. د محمد ولي زلمى، كندهار چاپ، مخ 127.
(20) خټك، افضل خان، ټولونه او ترتيب دوست محمد خان كامل، يونيورسټي بك ايجنسي پېښور.
(21) اسلامي دائرة المعارف، لاهور، جلد 2.
(22) كاكړ، سيال، مزارات، سليم بك ډپو كوټه، مخ 49.
(23) محمد خان، سلطان، تاريخ سلطاني، بمبئ چاپ، 1898ء مخ 96.
(24) ايضاً، ديباچه، مخ 4،
(25) ايضاً، مخ 4.
(26) ايضاً، مخ 4
(27) كاكاخېل، بهادر شاه ظفر، پښتانهٔ د تاريخ په رڼا كښې، پېښور، مخ 631
(28) سيستاني، محمد اعظم كانديد اكاډميسن، قيامهاى مردم افغانستان برضد استبداد نادر افشار، مخ 37.
(29) غبار، غلام محمد، افغانستان درمسير تاريخ، مخ 335. تاريخ سياح مسيحي كروسنكي، مخ 63
(29) ايضاً، مخ 37. لاك هارت مخ 163.
(30) سيستاني، محمد اعظم، ستا خيز قندهار، مخ 92.

(31) ايضاً، مخ 96.
(32) محمد خان، سلطان، تاريخ سلطاني، بمبئ چاپ، 1898ء مخ 96.
(33) ايضاً، ديباچه، مخ 97.
(34) افغاني، اثر، عبدالحليم، روحاني رابطه او روحاني تړون، دارالکتاب باجوړ، مالاکنډ ايجنسی، مخ 727.
(35) Balochistan through ages لورالائي ګزيټير second Edition, 198 p 175
(36) Afghanistan by General Mac Munn gosuae- Adab. Quetta. P 49.
(36) خټک، افضل خان، ټولونه او ترتيب دوست محمد خان کامل، يونيورسټي بك ايجنسي پېښور.
(37) ګنډا پور، شېر محمد، تاريخ خورشيد جهان، مخ 158.
(38) Histry of Pessia by Sir Persi Syksi London 1951, p 257, 258.
(39) خان محمد، حافظ، (مقدمه) مختصر حصن الايمان، تصنيف عبدالحکيم، ميا نانا صاحب، 1372هـ = 1952ء، مخ ل.
(40) زلمی، محمد ولي، د کندهار مشاهير، دويم چاپ، مخ 140.
(41) حميد الله، صاحبزاده، اکتسابات روحاني، صاحبزاده کتاب ګهر، پښين، مخ 7.
(42) رستم، ابوالاعجاز، ډاکټر، مشموله ورځپاڼه ايکسپريس کوټه، 9اګست 2009ء.
(43) اکسس ورتي، مائيکل، شمشير ايران نادرشاه، ترجمه محمد حسين آريا، تهران، ايران، 1388هـ مخ 303.
(44) شعباني، رضا، ډاکټر، تاريخ ايران درعصر افشاريه، جلد 1 تهران ايران، 1388هـ مخ.....
(45) حبيبي، عبدالحی، پوهاند، تاريخ مختصر افغانستان، دويم،
(46) بېنوا، عبدالرؤف، ميرويس نيکهٔ، پښتو ټولنه کابل، 1325هـ مخ 97.
(47) لاك هاټ، لارنس، نادرشاه، لاهور، 1998ء، مخ 163.
(48) ايضاً مخ 168، 169.
(49) افراسيابي، بهرام، عقاب کلات، تهران ايران، مخ 426.
(50) محمد خان، سلطان، مخ 96.

(51) حبيبي، عبدالحی، پوهاند، تاريخ مختصر افغانستان، دويم، مخ 82.
(52) بېنوا، عبدالرؤف، ميرويس نيکهٔ، مخ 98.
(53) حميد الله، صاحبزاده، اکتسابات روحاني، صاحبزاده کتاب ګهر، پشين، 1990ء، مخ.....
(54) حميدالله، صاحبزاده، تاريخ مختصر پښتون، همت پبلکشنز پټيل روډ کوټه، مخ 101.
(55) ميلي سن، تاريخ افغانستان، انګرېزي، لاهور، 1984ء، مخ ص.
(56) ) خان محمد، حافظ، (مقدمه) مختصر حصن الايمان، تصنيف عبدالحکيم، ميا نانا صاحب، بلوچستان بکډپو مسجد روډ کوټه، 1372هـ = 1952ء، مخ
(57) افغاني، عبدالحليم اثر، روحاني رابطه يا روحاني تړون، دارالاشاعت باجوړ، مخ 729، د اثر افغاني مضمون، اولس رساله، مارچ 1964ء، مخ 10- 11.
(58) مائيکل اکسس، مخ
(59) د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه، سبا کتابخانه، پېښور، مخ 4.
(60) رفيع، حبيب الله، کتابونه دريابونه، د عبدالغفار هوتك منظوم تاريخ، پېښور، 1380هـ مخ ......
(61) د کوټې پښين ډسټرکټ ګزيټيئر، کوټې چاپ انتخاب، 1907ء،
(62) History of Afghanistan by Mallesan 1984, p 257.
(63) ايضاً پېښور چاپ.
(64) حبيبي، عبدالحی، پوهاند، د ميا فقيرالله پېژند ليك، 1359هـ ش، مخ 37.
(65) حميد الله، صاحبزاده، د غرو ځوکې، صاحبزاده د پښين، مخ 89
(66) حميد الله، صاحبزاده، پښتانهٔ نوميالیان، پښتو اکېډمي کوټه
(66) رشاد، پوهاند، ميا عمر د ځمکنو، څېړنه، کابل، 1360هـ ش.
(67) افغانی، عبدالحليم، اثر، روحاني تړون، مخ 554.

(68) کاکړ، سعد الله، مقامات العرفاء مسمیٰ به تحفة القيوم، تحصيل دکۍ چوتيالۍ، 1378هـ.
(69) رشاد، پوهاند،ميا عمر د ځمکنو،څېړنه،کابل،1360هـ ش، مخ 18-19.
(70) قادري، محمد دين، کليم، مدينة الاولياء، اسلامك بك فاؤنډيشن لاهور، مخ
(71) سرور، غلام، مفتي، مدينة الاولياء، لاهور، مخ
(72) قادري، محمد دين، کليم، مدينة الاولياء، اسلامك بك فاؤنډيشن لاهور، مخ 436.
(73) سرهندي، خواجه، معصوم، مکتوبات، (تلخيص و مترجم) اسلامك بك فاؤنډيشن لاهور. مخ
(74) حميد الله، صاحبزاده، اکتسابات روحاني، (مقدمه) مخ 54.
(75) عمر، ميا، قلمي، خزينة الاولياء، بحواله پوهاند رشاد، مخ 29 – 30.
(76) کاکړ، ميا، عبدالحکيم، مختصر حصن الايمان، حافظ کتب خانه مسجد روډ کوټه، 1972ء، مخ 28.
(77) ايضاً، مخ 54. ميا عبدالحکيم.
(78) خان محمد، حافظ، مقدمه مختصر حصن الايمان.
(79) کاکړ، ميا عبدالحکيم، مختصر حصن الايمان، مخ اخير د تصحيح.
(80) جمعه اغا، ملا، ائينه، ديوان، احمدون، زيارت، 1999ء، مخ 29.
(81) Report an hal chaitjali by sirsen duk. 1882.
(82) د رحمان بابا ديوان
(83) کامل، دوست محمد خان، رحمان بابا، پېښور، 1958ء، مخ 102.
(84) ديوان، حافظ شيرازي، باهتمام مهدي علي نيا، چاپ اول، 1370هـ